# د کمال خان بند سیاسي، حقوقي او ټولنیز ارزښت

محمد شفیق ژمن[1]
د بُست پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رئیس او استاد

**لنډیز:**
افغانستان او ایران د یو مشترک تمدني او جغرافیایي بستر په حضور کې د پېړیو راپدېخوا تقریبا د یو ښه ګاونډیتوب تجربه لري، البته ددې مځکني قرابت ســره ســره بیا هم د دواړو هیوادونو تر منځ د پولي او اوبو پر ســر ځیني وخت شـــخړي رامنځته کیږي، چي ددې شخړو په رامنځته کېدو سره سیاسي اړیکي خړي پړي کیږي او دواړه دولتونه کوښښ کوي چي باید خپلې ملي ګټي وساتي.

پدې مسائیلو کي یو هم د هلمند د اوبو مسئله ده، چي پدې وختونو کي یوه ګرمه او مهمه موضوع ده، چي پدې وروستیو کي یې د مهارولو لپاره سیستماتیک کار پیل سوي او د هلمند پر سیند د کمال خان ستره ملي پروژه په کار اچول سوې ده چي تقریبا تخنیکي کارونه یې بشپړ او ډېر ژر به ګټي اخیستني او فعالیت لپاره افتتاح سي.
حاضره لیکنه یوه کتابتوني څېړنه ده، چي تر ډېره حده هڅه سوې چي تر څو د کره او معتبرو کتابونو، مقالو، ویب پاڼو او نورو سرچینو څخه پدې لیکنه کي ګټه واخیستل سي. ددې لیکني اصلي موخه داده چي تر څو پدې وپوهیږو چي د کمال خان بند سیاسي، حقوقي او ټولنیز ارزښت څه دي او همدارنګه په کُل کي د کمال خان بند په جوړېدو سره د افغان ولس په ژوندانه کي به څه مثبت بدلونونه راسي.
**کلیدي کلمات: اوبه، د هلمند د اوبو تړون، بهرني سیاست، نړیوالي اړیکي، امنیت او ثبات.**

**سریزه:**

اوبه د بشر د حیات لپاره یوه ارزښتناکه ماده ده، چې ارزښت یې د اسلام په مبارک دین کې په بهترین ډول تعریف سوي دي (النحل، آیت ۱۰) نو په همدې دلیل دا ثابته ده چې د دولتونو پر ثبات او بې ثباتۍ مستقیمه اغېزه درلودلای سي (www.bluepease.org: 2021).

په دې خاورینه کُره کې چې تقریبا یوه برخه یې وچه او درې برخې یې اوبه تشکیلوي، خو ددې سره سره بیا هم د پاکو او خوږو اوبو مقدار د امریکا متحده ایالاتو د جیولوجیکي سروې پر بنسټ ۳ سلنه ښوول سوې ده او ددې درې سلنو اوبو څخه یوازې ۲.۵ یې د مځکې په تل او ۰.۵ سلنه یې په سیندونو او حوضونو کې موندل کیږي (Nationalgeographic.org).

په نړیوالو اړیکو کې د دولتونو تر منځ د وسله والو نښتو د مستقیمو لاملونو څخه یو لامل خوږې اوبه دي، چې خوشبختانه زموږ ګران هیواد افغانستان د خوږو اوبو ډېره برخه په واک کې لري.

اوسنیو پېړیو کې دولتونه اوبه د وسلې په توګه کاروي، چې د نړیوالو اړیکو او پر دولتونو د تاثیر درلودلو لپاره بهترینه لار او وسیله ده او ددې تر څنګ ځینې وختونه د دولتونو د اړیکو په خړپړوالي کې هم رغنده رول درلودلای سي.

د یوویشتمې پېړۍ له مسائیلو او د بهرني سیاست د الې په توګه د اوبو د ډیپلوماسۍ یادونه ضروري ده، ځکه دولتونه د کاله په میلیاردو ډالر له خپلو اوبیزو سرچینو څخه تر لاسه کوي او په دغو پیسو خپل دولتونه رغوي (یونیسیف: ۲۰۱۹).

د اوبو مهارول د ولسمشر اشرف غني د ټاکنیزو کمپاینونو شعار او دده د لومړي دورې ډېر ګرم عنوان و چې ولسمشر به پرې ټینګار کاوه او اوبه یې د افغانستان عزت وګڼلې او نورو هیوادونو ته هغه اوبه چې د نړیوالو قوانینو او معاهداتو له نظره هغه د همسایه هیوادونو نه کیدلې راوګرځولې او لوی بندونه یې پرې جوړ کړل لکه د فراه بخش آباد , د نیمروز کمال خان او داسې نور چې دا لړۍ تر اوسه ادامه لري.

کمال خان بند د هیواد د لویو بندونو په شان هغه لوی د اوبو مهارولو او کنټرول بند دی چې د هلمند پر سیند او د نیمروز ولایت جنوب ته د چهار برجک ولسوالۍ په ۱۸ کېلومترۍ کې پروت دی؛ دا بند لس زره کلن تاریخ لري چې د جوړېدو چارې یې د ګوډ تېمور د وختونو پورې تړل کیږي چې د سیستانیانو سره د تیمور د جګړې په پایله کې دا بند ونړېدی او تر ډېره وخته پورې دغسې نړیدلې پاته و؛ د ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال هم د یاد بند د رغولو لپاره مثبت ګامونه پورته سول چې پدې لړ کې کولای سو د وخت د لومړي وزیر موسی شفیق یادونه وکړو: موسی شفیق د کمال خان بند د بیارغولو او د هېواد د اوبو د کنټرول او ایران سره د یادو اوبو د شخړې او سیاسي ترینګلتیا د حلولو لپاره د ایران د وخت لومړي وزیر امیر عباس هویدا سره خبرې اترې پیل کړې او د ډیپلوماتیکو مذاکرو په پایله کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د اوبو د وېش په هکله ۱۲ ماده ییز هوکړه لیک لاسلیک سو.

د یاد هوکړه لیک د دومې مادې پر اساس او د ۱۹۲۰ د بارسلونا کنوانسیون پر بنسټ ایران هېواد ته حق ورکړل سو چې کمال خان بند څخه په ثانیه کې ۲۶ متر مکعبه او په کال کې ۸۵۰ میلیون متر مکعبه اوبه ترلاسه کړي، خو د وخت تېرېدل او د بند جوړېدو ته نه پاملرنه ددې لامل سو تر څو زموږ ګاونډي هیواد ایران د لاسلیک سوي هوکړه لیک خلاف څو چنده او کال کې شاوخوا ۵.۱ میلیارده متر مکعبه اوبه ترلاسه کړي او یادو اوبو څخه د خپل کرهنیز سکتور د غوړېدا او اقتصادي پرمختګ او پیاوړتیا لپاره ګټه پورته کړي، زموږ له اوبو څخه تولید سوي توکي پر موږ وپلوري او دا لړۍ تر ننه جاري وساتي.

په کال ۱۳۹۰ لمریز د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال د بند د بیارغوني اصلي کار په درو برخو کې بیا پیل سو، چې دوې برخې یې د حامد کرزي د حکومت په دوران کې او دریمه خو ډېره مهمه برخه یې د اشرف غني د حکومت په دوران په ۱۳۹۶ لمریز کې پیل سوه، چې خوشبختانه ټولې چارې یې بشپړې او د څو ورځو په جریان کې به افتتاح سي (BBC).

ددې مقالې اصلي موضوع د کمال خان بند سیاسي، حقوقي او ټولنیز ارزښت ده، اوس به د هر ارزښت په اړه بېل بېل د بېلو سرلیکونو په ترڅ کې به پرې بحث وکړو.



Tel: 0202522472 Web: www.nwara.gov.af Email: chiefofstaff.nwara1398@gmail.com Fb: www.facebook.com/NWARA.af Twitter: twitter.com/Nwara_afghan

## ۱. د کمال خان بند سیاسي ارزښت:

د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند د اوبو د استفادې پر سر هغه وخت اختلاف رامنځته سو، چي انګریزانو د افغانستان او ایران د پولو د تثبیت په برخه کي دخالت پیل کړ (سینایي او جمالي، ۱۳۹۷: ۷۰) او د هغه وخته د دواړو هیوادونو تر منځ سیاسي ترینګلتیا اوج ته ورسېدل او د ا شرف غني په ولسمشر کېدو او د هلمند د رودخاني پر سر د کمال خان بند د پاته کار د بیا پیلېدو سره د دواړو هیوادونو تر منځ سیاسي ستونزي راولاړي سوې.

په اوسـني عصـر کي پاکي او خوږي اوبه د نورو قیمتي مادو او ذخایرو په څېر لوړ قیمت او ارزښـت لري، چي دولتونه کوښـښ کوي، چي یا خپلي اوبه مهار کړي او یا هم د نورو دولتونو څخه چي اوبه ورته راځي د هغو څخه زیاته اسـتفاده وکړي (کوهزاد: ۱۳۹۴).

د هیوادونو امنیت او ثبات یو د بل سره تړلي دي، د کمال خان بند په شان د نورور بنسټیزو پروژو پلي کول به وکړاي سي په افغانستان کي د امنیت په راوستلو او د سیاسي ثبات په پیاوړي کولو کي حیاتي رول ولوبوي او همدارنګه د کمال خان بند په فعاله کولو سره به له ایران سره د متقابلو سیاسي او ډیپلوماتیکو اړیکو په رغولو کي رغنده رول ولري او دا بندبه افغان دولت ته دا فرصـت په لاس ورکړي چي ددې بند څخه د ایران په وړاندي د یوې سـیاسـي الې په توګه کار واخلي.

## ۲. د کمال خان بند حقوقي ارزښت:

د افغانستان او ایران ترمنځ داوبو د وېش تړون په ۱۳۵۱ کال کي د کب د میاشتي په ۲۲ مه نېټه چي د ۱۹۷۳ میلادي کال د مارچ له ۱۳ نېټي سره سمون خوري د کابل ښار کي د وخت صـدراعظم شـهید محمد موسـي شـفیق او د ایران صـدراعظم امیر عباس هویدا له خوا لاسلیک سو؛ د یاد تړون له مخي، ایران ته د هلمند له سیند څخه باید په کال کي ۸۵۰ میلیونه متر مکعبه اوبه ولاړي سي؛ پداسي حال کي چي د افغانستان کابو ۷۰ سلنه اوبه د دوي پر لور رواني دي او د کورنیو جګړو او کړکیچونو له امله د هغه تړون د ایران له خوا په صداقت سره عملي نه سو او د معلوماتو له مخي، حتي ایران هیڅکله د پورتني پرېکړي له مخي عمل نه دي کړي او د تړون پرېکړي یي هم عملي کړي نه دي، ایران تقریبا په ۴۴ کلونو کي تر خپل حق ۷۵ سلنه زیاتي اوبه تر لاسه کړي دي؛ زموږ با تدبیره ولسمشر د اوبو ښه مدیریت په موخه د بندونو جوړولو او داوبو د مهارولو ته مخه کړې او جامع پلان او امکانات یي ورته برابر کړي دي او دا به د هیواد په سیاسي تاریخ کي یوه لویه لاسته راوړنه وي.

کونړ، هلمند، کابل، بلخ آب، کوکچه او مرغاب هغه مهم سـیندونه دي، چي زموږ له خاوري سـرچینه اخلي، خو موږ په خپل وطن کي د اوبو له کمبود سره مخ یو، پدا سي حال کي چي زموږ سیندونه ګاونډیانو ته په میلیاردونو لیتره خوږي او پاکي اوبه ورکوي او موږ تر اوسه د خپلو اوبو یوازي ۱۰ % مهار کړي دي.

همدا ډول باید ګاونډي هیوادونه هم داوبو دعادلانه وېش لپاره یوې اصـولي موافقي ته غاړه کښـېږدي، موږ د هلمند د اوبو پرسر له ایران سره موافقه لرو او ددې موافقي په چوکاټ کي کیداي سي ډېر اغېزمن ګامونه واخلو.

او سني نړیوال شرایط دا مني چي د ځینو طبیعي موادو د کاروني لپاره باید منظم سیمه ییز تیاري ونیول سي، ځکه دا هم حقوقي او هم علمي اړخونه لري.

معادن او اوبه زموږ د هیواد د طبیعي پانګي سـتره برخه جوړوي، خوموږ ورڅخه تر اوسـه کومه د پام وړ ګټه نه ده اخیستي.

د حقوقي اړخه د افغانستان دولت ته به د بندونو رغونه دا زمینه مساعده کړي، چي ګاونډیو ته د تړونونو او نړیوالو قوانینو پر اسـاس اوبه ورکړي او د اضـافي اوبو ورکولو څخه به ممانعت وکړي او له دغو اوبو څخه به د افغانسـتان د خاوري د بیارغووني لپاره مثبته استفاده کوي.

## ۳. د کمال خان بند ټولنیز ارزښت:

اوبه د هر ژوندي موجود د ژوند لپاره حیاتي ارزښت لري، ځکه هر شي په اوبو سره ژوندي دي، افغانستان چې د درېیمې نړۍ او شاته پاته هیوادونو له ډلې څخه شمېرل کیږي، ډېري ټولنیزي ستونزي لري، چې په نتیجه کي فقر، بې وزلي، بې امنیتي او لوړ خطرات منځته راغلي دي (نړیوال بانک، ۱۳۹۶: ۲۳) څنګه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت باید د اساسي قانون پر بنسټ د هیواد د بیارغوونې یا اعمار په اړه په ټولو سیمو او ساحو کي د متوازني ودې اصل په پام کي ونیسي، خپل پلانونه او ستراتیژۍ داسي عیاري او پلي کړي، چې د هیواد ټولي سیمي له هغې څخه په برابر او تساوي ډول برخمني سي (اساسي قانون، ۱۳۸۲: ۶ ماده) او همدارنګه دولت مکلف دي چې د ټولني د پرمختګ او د اوسېدونکو د هوسا ژوند د تأمین په خاطر په بېلابېلو ټولنیزو او اقتصادي ساحاتو کي لازم تدابیر ونیسي، د هیواد له ذخایرو څخه د خلکو د ژوند د هوساینې لپاره استفاده وکړي، د کرهنیزو محصولاتو لپاره بازار موندنه وکړي، د سرشارو سرچینو په ځانګړي ډول له اوبو څخه د برېښنا او انرژۍ په تهیه کولو او په کرهنه کي د بندونو، کانالونو او ویالو په کیندلو سره پرمختګ وکړي، تر څو د خلکو ژوند هوسا او هیواد د پرمختګ په لور ګامونه واخلي (ژمن، ۱۳۹۶: ۲۷).

د کمال خان بند په ګټي اخیستني سره به په زرګونو بزګر پر کار سي، په لکونو جریبه شاړي مځکي به خړوبه سي، خلکو ته به کاروبار پیدا سي، د ښارونو او ولسوالیو تر منځ به واټن کم سي، د کمال خان بند په شاوخوا کي به د ژوند لپاره زمینه مساعده او ښوونځي، مدرسي، پوهنتونونه، مسجدونه، تفریحي پارکونه، صحي کلنیکونه او نور مهم عام المنفعه پروژې به پلي سي، سېلابونه به کنټرول کړي، د کرهني په سکټور کي به د لویي پانګوني باعث سي (سیستاني: ۱۳۹۹) همسایه هیواد ایران ته د هلمند د اوبو د تړون پر بنسټ له حقابه څخه علاوه زیاتي اوبه ورکول به د مادیاتو په مقابل کي کیږي، چې له دې لاري به زموږ دولت ته په میلیونونه ډالر راځي او دولت به د افغانانو د ژوند د بهبود لپاره ورڅخه په کلني بودجه کي کار اخلي.

## پایله:

په نړیوالو اړیکو کي د دولتونو تر منځ د وسله والو نښتو د مستقیمو لاملونو څخه یو لامل خوږې اوبه دي، چې خوشبختانه زموږ ګران هیواد افغانستان د خوږو اوبو ډېره برخه په لاس کي لري.

اوسنیو پېړیو کي دولتونه اوبه د وسلي په توګه کاروي، چې د نړیوالو اړیکو او پر دولتونو د تاثیر درلودلو لپاره بهترینه لار او وسیله ده او ددې تر څنګ ځیني وختونه د دولتونو د اړیکو په خړپړوالي کي رغنده رول درلودلای سي.

د اوبو مهاړول د ولسمشر اشرف غني د ټاکنیزو کمپاینونو شعار او دده د لومړي دورې ډېر ګرم عنوان و چې ولسمشر به پرې ټینګار کاوه او اوبه یې د افغانستان عزت وګڼلې او نورو هیوادونو ته هغه اوبه چې د نړیوالو قوانینو او معاهداتو له نظره هغه د همسایه هیوادونو نه کیدلې راوګرځولې او لوی بندونه یې پرې جوړ کړل لکه د فراه بخش آباد , د نیمروز کمال خان او داسي نور چې دا لړۍ تر اوسه ادامه لري.

د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند د اوبو د استفادې پر سر هغه وخت اختلاف رامنځته سو، چې انګرېزانو د افغانستان او ایران د پولو د تثبیت په برخه کي دخالت پیل کړ(نړیوال بانک: ۱۳۹۶) او د هغه وخته د دواړو هیوادونو تر منځ سیاسي ترینګلتیا اوج ته ورسېدل او د اشرف غني په ولسمشر کېدو سره او د هلمند د رودخانې پر سر د کمال خان بند د پاته کار د بیا پیلېدو سره د دواړو هیوادونو تر منځ سیاسي ستونزي راولاړي سوې.

د هیوادونو امنیت او ثبات یو د بل سره تړلي دي، د کمال خان بند په شان د نورور بنسټیزو پروژو پلي کول به وکړای سي په افغانستان کي د امنیت په راوستلو او د سیاسي ثبات په پیاوړي کولو کي حیاتي رول ولوبوي.

د حقوقي اړخه د افغانستان دولت ته به د بندونو رغونه دا زمینه مساعده کړي، چې ګاونډیو ته د تړونونو او نړیوالو قوانینو پر اساس اوبه ورکړي او د اضافي اوبو ورکولو څخه به ممانعت وکړي.

د کمال خان بند په ګټي اخیستني سره به په زرګونو بزګر پر کار سي، په لکونو جریبه شاړي مځکي به خړوبه سي، خلکو ته به کاروبار پیدا سي، د ښارونو او ولسوالیو تر منځ به واټن کم سي، د کمال خان بند په شاوخوا کي به د ژوند لپاره زمینه مساعده او ښوونځي، مدرسي، پوهنتونونه، مسجدونه، تفریحي پارکونه، صحي کلینیکونه او نور مهم عام المنفعه پروژې به پلي سي، سېلابونه به کنټرول کړي، د کرهني په سکټور کي به د لویي پانګوني باعث سي.

## ماخذونه:


۱) قرآن کريم.
۲) ژمن، محمد شفيق، ۱۳۹۶، د افغانستان د اساسي قانون تحليل، لومړي چاپ، نوي مستقبل خپرندويه ټولنه، کابل - افغانستان.
۳) د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲، د عدليې وزارت رسمي جريده، ۸۱۸ گڼه.
۴) سينايي، وحيد، جمالي، جواد، ديپلماسي اقتصادي ج.ا.ايران در افغانستان و مديريت اختلافات آبي دو کشور، ۱۳۹۷، فصلنامه مطالعات راهبردي سياست گذاري عمومي، دوره ۸، شماره ۲۸، پاييز ۹۷.
۵) کوهزاد، حسين، ۱۳۹۴، چالش ها وظرفيت هاي همکاري اقتصادي ايران و افغانستان، سايت اقتصاد آسيا.
۶) نړيوال بانک، ۱۳۹۶، د افغانستان اقتصادي گزارش
documents.worldbank.org/curated/en/746471495781300014/pdf/115229-dari-public-)
(afg-development-update-spring-2017-dari.pdf
۷) کانديد اکاډمېسن محمد اعظم سيستاني فيسبوک پاڼه
(/https://www.facebook.com/713662963/videos/10158947939277964)
۸) https://www.thebluepeace.org/water-diplomacy
9) https://www.nationalgeographic.com/magazine/article/water-is-life
10) https://www.unicef.org/wash/water-scarcity
11) https://www.bbc.com/persian/afghanistan-54854466

# د کمال خان د بند څخه د خروبيدونکی ځمکو اقتصادی ارزښت

میر اغا جمال[1]

د بُست پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد

**لنډيز:**
نیمروز د هېواد له گرمو ولايتونو څخه دی چې د ۲۱,۳۰ درجود شمالی عرض‌البلد او ۵۵,۶۶ درجوختيځ طول‌البلد اوهمدارنگه په لوېديځ کې له ايران او په سويل کې له پاکستان سره پوله لري، همداراز په شمال کې له فراه او ختيځ کې له هلمند ولايتونو سره په گاونډ کې پروت دی چې له جغرافيايي پلوه ځانگړی اهميت لري، نیمروز وچه او گرمه هوا لري چې په اوړي کې توده او وچه او په ژمي کې معتدله وي، په دغه ولايت کې د لويو او کوچنيو سيندونو شتون، د نوموړي ولايت د اوسېدونکو او څارويو لپاره مناسب شرايط برابر کړي دي، هلمند سيند چې د هندوکش له غرونو سرچينه اخلي په همدې سيمه کې د هېواد لوېديځ او سويل ته بهېږي، د پېچليو درو او غرونو ترمنځ ددغه سيند بهېدل د کال په بېلابېلو فصلونو کې د ځمکو د ويجاړېدو او سيلابونو د راتلو لامل کېږي، دا په داسې حال کې دي چې ددغه سيند په اوږدو کې د اوبو د بندونو د جوړولو، د برېښنا د توليد او کرنې د ودې او پراختيا په موخه د شاړو ځمکو د خړوبولو لپاره په بشپړه توگه شرايط برابر دي، پر همدې لاره له دې مخکې کجکي بند او په روان کال کې کمال خان بند گټې اخيستو ته سپارل شوی، د مسوولينو په وينا دغه بند د نهه ميگاواټه برېښنا د توليد اواتيا زره هکتاره کرنيزو ځمکو د اوبولو ظرفيت لري د هېواد په لوېديځ او سويل لوېديځ کې د استوگنې شرايط د نورو سيمو په پرتله توپير لري، که څه هم افغانستان يو غرنی هېواد دی چې ډېر غرونه لري خو د هېواد سويل لوېديځې سيمې بل ډول دي، ددغو برخو هوا ډېره گرمه او وچه ده چې د اورښت کچه پکې کمه ده، همداراز د تبخير کچه له اورښته زياته ده، د سيندونو ترڅنگ داسې کلي جوړ شوي چې اوسېدونکي يې د کبانو او مرغانو د ښکار، کرنې او څارويو د روزول له لارې خپلې ورځنۍ اړتياوې پوره کوي. په داسې سيمو کې چې شاوخوا يې وچې او ارتې دښتې دي د اوبو زېرمه کول او د بندونو جوړول د سيلانيانو او سياحت کوونکو لپاره مناسب شرايط برابروي، پرېمانه اوبه د سيمې په کچه د مناسب چاپېريال لامل کېږي چې د افغانستان سويل لوېديځې سيمې د ډېرو کلونو لپاره له وچکالۍ ژغولای شي، د اوبو دا زېرمې د شاوخوا ولايتونو تر ځمکې لاندې اوبو د زياتوالي لامل کېږي او تر يوه بريده د دغو سيمو د اوسېدونکو د اوبو اړتيا پوره کوي، په اوبو سره دښتې او صحراوې زرغونې او د سيمې بڼه بدلېدای شي. همداراز، دا زېرمې د هېواد په سوېل لوېديځ کې د خړ ځايونو د زياتوالي او د سيلابونو د راتلو مخنيوی کوي، نیمروز د سمندر له سطحې ۴۲۰ تر ۵۰۰ مترو لوړوالی لري او د شاوخوا سيمو په پرتله ټيټ دی چې د بند جوړولو په برخه کې مهم رول لري او د اوبو د وتلو مخه يې نيسي.

**کلیدی کلمات: د اوبه، اقتصادی ارزښت او په کرنیزو تولیداتو کی د هغه رول**

**سريزه:**
کمال خان بند چې ۱۶ متره لوړوالی لري د ۵۲ ميليونو مکعبو اوبو د ذخيرې ظرفيت لري او د دې له جملې څخه د ايران سره د هلمند د تړون پر اساس ۱۴ سلنه يې د ايران حق کيږي خو اوسمهال د بند د نشتون او خرابوالي له امله د هلمند د سيند ډېرئ برخه ايران هېواد ته ځي، چې د کمال خان بند په جوړېدو سره به له يوې خوا دا اوبه مهار او د اضافي اوبو د جريان



Tel: 0202522472 Web: www.nwara.gov.af Email: chiefofstaff.nwara1398@gmail.com Fb: www.facebook.com/NWARA.af Twitter: twitter.com/Nwara_afghan

مختنیوی وشي او له بلې خوا به د هلمند د اوبو معاهده چې موسی شفیق له ایران سره امضأ کړې وه یو ځل بیا را ژوندۍ او پلي شي.
دویم ارزښت یې د برېښنا د تولید مسئله ده، اوسمهال افغانستان د برېښنا له کبله یو اړهېواد ده، مو ږ ۷۰ سلنه خپله د اړتیا وړ برېښنا له ګاونډیو هېوادونو او په ځانګړې توګه له تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران څخه واردو اوله دې کبله د کال شاوخوا ۲۲۰ تر ۲۷۰ ملیونه ډالره پیسې له لاسه ورکوو. که چېرې د افغانستان د برېښنا له ټولو داخلي تولیدي سرچینو څخه ګټه پورته شي کوئ شي په ټولیزه ټوګه د کال ۱۲۲ زره مېګاواټه برېښنا تولید کړي او دا په داسې حال کې ده چې برېښنا ته د افغانستان کلنۍ اړتیا په ټولیزه توګه ۴۷۰۰ میګا واټه ده. د برېښنا د تولیدي سرچینو څخه یو هم زموږ د اوبو بندونه او له جملې څخه یې د کمال خان بند ده چې بیارغوني سره کولئ شي ۸ تر ۹ مېګاواټه برېښنا تولید کړي. چې یاده برېښنا د افغانستان او په ځانګړې توګه د نیمروز ولایت په تولیدی او روښنایي اهدافو کې مهم رول لوبوئ شي د بند د جوړېدو دریم لوی ارزښت د ځمکې خړوبول دي، افغانستان یو کرنیز هېواد ده او د کرنې سکتور د ودې لپاره حیاتي موضوع د اوبو شتون او پر وخت رسول دي. داچې موږ کرنیز هېواد یو او د کرنې سکتور د افغانستان د اقتصاد د ملاتیر ده خو دا چې ولې تراوسه په دې نه یو توانیدلي چې دې مهم سکتور ته پاملرنه او وده ورکړو او د هېواد اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره کړو؟ یو مهم دلیل یې د داخلي اوبو ناسم مدیریت، کنټرول او ورڅخه ګټه پورته کول دي. د کمال خان بند په جوړېدو سره به د شته اوبو یوه برخه مدیریت او د بند شاوخوا، ۱۸۰۰۰۰ زره هکتاره ځمکه به خړوبه شي. چې دا کوئ شي د نیمروز ولایت د کرنې په وده او د هېواد اقتصادي پرمختګ کې بنسټیز رول ولوبوي ( رامین، ۲۰۱۷).
د کمال خان بند څلورم ارزښت د هېواد د وګړو لپاره د کار او روزګار د فرصت برابرول دي، له بده مرغه افغانستان هم د نورو شاتې پاتې هېوادونو په شان د وزګارتیا له ستر ناورین سره مخ ده، زموږ د هېواد د وګړو د وزګارتیا کچه تر ۴۰ سلنه پورې رسیږي او ولسونو مو د غربت او بېوزلی سختي شپې او ورځې سبا کوي، چې شته ستونزه کوئ شی تر شا نورې ټولنیزې ستونزې وزېږوي، له بده مرغه په دا ورستیو ۱۷ کلنو کې د پرېمانه بهرنیو مرستو او پانګو په شتون کې هم د افغانستان دولت ونه شو کړای چې له دې طلایي چانس څخه ګټه پورته کړي، هېوادوالو ته مو د کار او روزګار فرصتونه برابر او په ژوند کې یې مثبت بدلون راولي چې لاملونه یې ډېر کیدای شي،د کمال خان د بند د جوړېدو په شان نورې بنسټیزې پروژې کولئ شي د کاري فرصتونو په برابرولو او د دبې روزګارۍ په را کمولو او له مینځه وړلو کې ستر او د پام وړ رول ولوبوي. د کمال خان بند په جوړېدو سره به په زرهاوو افغانانو ته په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د روزګار فرصت برابر شي، کاري ځواک به مو په کار وګمارل شي، عواید به تر لاسه کړي، ملي تولیدات او ملي عواید به مو لوړ شي، ناامنی، جګړو او ټولنیزو ستونزو په کچه کې به د پام وړ کموالی راشي او د اقتصادي او ټولنیزې ودې او هوساینې لپاره به لار پرانستل شي (......).

## د ستونزی بیان Problem Statement

دلیکنی په پیل کی راته ډیره آسانه معلومیده چه ممکن لومړی لاس معلوماتو ته به په آسانۍ سره معلومات ترلاسه کړم داچه لومړی لاس معلومات پیداکیدل ډیر وخت اوخه ناځه لګښت ته اړتیا درلوده نو ومی نه شو کولای چه لومړی لاس معلومات ترلاسه کړم داچه معلومات اودیټا می دوهمی لاس ده خو ډاډه یم چه ترډیره بریده دقیقه ده او دګټه اخیستونکو لپاره به یو سرچینه دمعلوماتو وګرځی .

## دڅیړنی اهمیت Significance of the Study

کمال خان بند د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري یو له سترو پروژو څخه ده چې د اوبو مدیریت، برېښنا تولید، د کرنیزو ځمکو خړوبولو، د سېلابونو مهار او خلکو ته د کارموندني په موخه جوړشویدی د کمال خان بند له بشپړېدو وروسته، ۲۷۸۸ میلیونه متر مکعبه اوبه مهار کوي؛ ۵۵ ملیونه متر مکعب اوبه ذخیره کوي؛ او ۱۸۴ زره هکتاره کرنیزه ځمکه به خړوبه کړي او د ۹ مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت به ولري، داچه له دغه بند څخه به خړوبیدونکی ځمکه سومره حاصلات ورکړی اوسومره عاید به ورڅخه ترلاسه شی اوهمدارنګه د هغې میني اواحساس له امله چې د خپل ګران هېواد اودهغی له خوږو اوبو سره یې لرم نو یوی څیړنی ته می اړتیا محسوس کړه ترڅو داسی ارقام اومعلوما راټول کړم چه په لوستلو سره یې ددی بند اوخړوبیدونکی ځمکی اهمیت لارنور هم دخلکو په ذهنونوکی وده وکړی.

## د څېړنې موخې (Objective)

د کرنیزو محصولاتو واردول، د کرنیزو محصولاتو د بیو بدلون او د خوارکی توکو د بنستیزوالي نه خوندیتوب، له سنتی او دودیزو لارو چارو څخه کټه اخیستنه،چي د تولیداتو لګښت یي زیات کړی دی او د واردیدونکو محصولاتو پر وړاندې یې د محصولاتو سیالي کمه کړې ده، ،دخلکو دکرنی سره زیاته علاقمندی نه لرل دا ټول یو له هغه ستونزو څخه دي، چې د هیواد د کرنې وده یې له ستونزو سره مخ کړې ده ددی لپاره چه خلکو ته دکرنی څخه ترلاسه کیدونکی عواید په زړه پوری واوسی نو ځکه می لازمه وګڼله چه دکمال خان دبند څخه دخړوبیدونکی ځمکی اقتصادی اهمیت باندی څه ناڅه لیکنه وکړم داچی دکمال خان دبند څخه خړوبیدونکی ځمکی دتولیداتو کچه اودعوایدو اندازه سومره ده اوسومره اقتصادی ارزښت لری څه ناڅه مقداری ډیټا ته اړتیا ده

## فرضیی Hypothesis

کچیری دکمال خان دبند څخه پورته ۱۸۴۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبه سی اوځمکه په سمه توګه میکانیزه سی داړه یم چه تر د اټکل سویو تولیداتو اوعوایدو دشمیری څخه به ډیر ځله تولیداوعواید زیاتوالی وکړی.

## دڅیړنی جوړښت Structure of Research

څیرنه می تر ډیره تشریحی تحلیلی ده چه دکمال خان دبند څخه خړوبیدونکی ځمکی اقتصادی ارزښت باندی متمرکزه ده چه داقتصادی اړخونوڅخه می ترډیره حده پوری په ټول ټال تولیداتو اوعوایدو باندی ده.

## ۲. تحلیل اوتجزیه (The Analysis)

کرنه د افغانستان د جغرافیایی جوړښت له امله یو خاص اقتصادي ارزښت لري، په افغانستان کې کابو ۷۵ تر۸۵ سلنه خلک په کرنه بوخت دی،نو ددی له امله د افغانستان په ملی اقتصاد کې ستر رول لوبوی د کرنی رول په ملی اقتصاد کې یو د هغه عایداتی او تمویلی منابعو څخه دی چې د افغانستان هغه خلک چې په کلیو او باندو کې ژوند کوي خپل وخت ورباندې تیروي او هوسا ژوند کوي کرنه په افغانستان کې په بیلا بیلو برخه وېشل شوې ده چه ټول ډولونه یی تر ډیره عنعنوی کرنی دی .

دکمال خان دبند څخه خړوبیدونکی ځمکه دافغانستان په کرنیزنظام کی ستر رول لوبولای شی هغه داچی ۱۸۴ زره هکتاره ځمکه چه د۹۲۰۰۰۰.۰ جریبه ځمکی سره برابره ده زما د مستقیمو اوغیر مستقیمو مرکو اوسروی ګانو څخه لاندی ګټورتیاوی به دافغانستان په اقتصاد باندی پری باسی :

### لومړی برخه: غلی دانی

**الف ـ غنم :** که نوموړی ځمکه په تمامه معنی سره میکانیزه شی اوپه نوموړی ځمکه باندی یوازی غنم وکرل شی اویوجریب یوازی ۳ خرواره غنم وکړی نوټول ټال به ۲۷۶۰۰۰۰خرواره غنم به یوازی په یوفصل کی تولید کړی چه دټن په حساب ۱۲۲۶۶.۶۶۶ ټنه کیږی چه دناخالصو عوایدو اندازه به یی دبازار دقیمت په آساس ۴۱۴۹۹۹۹۷۷ افغانی کیږی چه دا ونډه دافغانستان د بودیجی جوړونی په برخه کی ترټولو زیاته ونډه لرلای شی او که په منیځني ډول کچیری دینځه جریبه ځمکی لپاره یو کس په پورته ځمکه کی مصروف شی نو ۱۸۴۰۰۰ تنه به په کاربندی بوخت شی اوهمدارنګه ۱۸۴۰۰۰ تنه به دتجارت اوپه همدومره اندازه په ترانسپورت اوصنعت کی په کاربندی بوختیدلای شی چه دارقم دهیواد دنفوسو دوزګارتیا په برخه کی ترټولو زیات رقم ګڼل کیږی.



Tel: 0202522472 Web: www.nwara.gov.af Email: chiefofstaff.nwara1398@gmail.com Fb: www.facebook.com/NWARA.af Twitter: twitter.com/Nwara_afghan

**دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکی دغنمو دحاصلاتو نسبتا تخمینی عواید اوحاصلات**

| دغنمو څخه ترلاسه کیدونکی مجموعی ناخالص عواید په یو فصل کی دمیلیون په حساب | غنمو مجموعی تولید دټن په حساب | غنمو مجموعی تولید دخروار په حساب | په اوسطه توګه دیوجریب ځمکی څخه د غنمو تولید په یو فصل کی دخروار په حساب | تو ل ټال ځمکه په جریب سره | تول ټال ځمکه په هکتار سره | قیمت یو من | جنس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 41400.0001 | 12266.6667 | 2760000 | 3 | 920000 | 184000 | 150 | غنم |

**ب -جوارو:** کچیری په پورته ۹۲۰۰۰۰.۰جریبه ځمکه کی دغنمو څخه وروسته په لومړیو کلونو کی جوار وکرل شی هم به دهیواد داخلی اړتیا تړیره حده پوره شی او هم به ځمکه حاصل ته بنه برابره شی ځکه پورته ځمکه که په اوسط ډول دهر جریب ځمکی څخه ۳ خرواره جوار ترلاسه شی تقریبا ۲۷۶۰۰۰۰.۰ خرواره جوار تولید کوی چه دټن په حساب به ۱۲۲۶۶.۶۶۶ ټنه کیږی که یو من جوار په اوسط ډول ۱۰۰ افغانی قیمت ولری نو ټول ټال به ورڅخه ۲۷۶۰۰۰۰۰۰ افغانی عاید ورڅخه ترلاسه شی او که په منیځني ډول کچیری دیڅخه جریبه ځمکی لپاره یو کس په پورته ځمکه کی مصروف شی نو ۱۸۴۰۰۰ تنه به په کاربانډی بوخت شی اوهمدارنګه ۱۸۴۰۰۰ تنه به دتجارت اوپه همدومره اندازه په ترانسپورټ اوصنعت کی په کاربانډی بوختیدلای شی چه دارقم دهیواد دنفوسو دوزګارتیا په برخه کی ترټولو زیات رقم ګڼل کیږی.

**دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکه کی دخلکو د اشتغال نسبی کچه**

| په ټول ټال ځمکه کی دبوختو کسانو تخمینی شمیره | په اوسطه توګه د ۵ جریبه ځمکی لپاره دبوختو کسانو شمیر | تو ل ټال ځمکه په جریب سره | تول ټال ځمکه په هکتار سره | جنس |
|---|---|---|---|---|
| 184000 | 1 | 920000 | 184000 | غنم |

**دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکی دجوارو دحاصلاتو نسبتا تخمینی عواید اوحاصلات**

| دجوارو څخه ترلاسه کیدونکی مجموعی ناخالص عواید په یو فصل کی دمیلیون په حساب | دجوارو مجموعی تولید دټن په حساب | دجوارو مجموعی تولید دخروار په حساب | په اوسطه توګه دیوجریب ځمکی څخه د جوارو تولید په یو فصل کی دخروار په حساب | تو ل ټال ځمکه په جریب سره | تول ټال ځمکه په هکتار سره | دخروار جوارو قیمت | جنس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 27600 | 12266.6667 | 2760000 | 3 | 920000 | 184000 | 10000 | غنم |

**دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکه کی دخلکو د اشتغال نسبی کچه**

| په ټول ټال ځمکه کی دبوختو کسانو تخمینی شمیره په یو فصل کی | په اوسطه توګه د ۵ جریبه ځمکی لپاره دبوختو کسانو شمیر | تو ل ټال ځمکه په جریب سره | تول ټال ځمکه په هکتار سره | جنس |
|---|---|---|---|---|
| 184000 | 1 | 920000 | 184000 | جوار |

**ج -پنبه:** کچیری په پورته ځمکه باندی پنبه کرل شی اویوجریب ځمکه په مینځنی ډول دوه خرواره یا ۲۰۰ منه پنبه وکړی نو په مجموعی ډول به دنوموړی ځمکی څخه ټول ټال ۱۸۴۰۰۰۰.۰ خرواره پنبه ترلاسه کیدلای شی چه ۸۱۷۷.۷۷۷ ټنه سره برابریږی اوکه یومن پنبه ۵۰۰ افغانی قیمت ولری نو ټول ټال به ورڅخه ۹۱۹۹۹۹۱۲۵ افغانی ناخالص عاید ورڅخه ترلاسه کیدلای شی .

**دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکی دپنبی دحاصلاتو نسبتا تخمینی عواید اوحاصلات**

| دپنبی څخه ترلاسه کیدونکی مجموعی ناخالص عواید په یو فصل کی دملیون په حساب | دپنبی مجموعی تولید دټن په حساب | دپنبی مجموعی تولید دخروار په حساب | په اوسطه توګه دیوجریب ځمکی څخه د پنبی تولید په یو فصل کی دخروار په حساب | تو ل ټال ځمکه په جریب سره | ټول ټال ځمکه په هکتار سره | دیومن پنبی تخمینی قیمت | جنس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 919.999 | 8177.777 | 1840000 | 2 | 920000 | 184000 | 500 | پنبه |

**دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکه کی دخلکو د اشتغال نسبی کچه**

| دصنعت په برخه کی دبوختو کسانو شمیر | دتجارت اوترانسپورت په برخه کی دبوختو کسانو شمیر | په ټول ټال ځمکه کی دبوختو کسانو تخمینی شمیره په یو فصل کی | په اوسطه توګه د ۲ جریبه ځمکی لپاره دبوختو کسانو شمیر | تو ل ټال ځمکه په جریب سره | ټول ټال ځمکه په هکتار سره | جنس |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 92000 | 92000 | 460000 | 1 | 920000 | 184000 | پنبه |

**د- ماش:** همدارنګه کچیری په پورته ۱۸۴۰۰۰.۰۰ هکتاره ځمکه باندی ماش وکرل شی نو ټول ټال به ۱۳۸۰۰۰۰.۰ خرواره ماش تولید کولای شی چه دټن په حساب به ۶۱۳۳.۳۳۳ ټنه کیږی که یومن ماش په اوسط ډول سره ۵۰۰ افغانی قیمت ولری نو ټول ټال به ورڅخه ۶۹۰۰۰۰۰۰۰.۰۰ افغانی ناخالص عاید ورڅخه ترلاسه شی

**دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکی دماش دحاصلاتو نسبتا تخمینی عواید اوحاصلات**

| دماش څخه ترلاسه کیدونکی مجموعی ناخالص عواید په یو فصل کی دملیون په حساب | ماش مجموعی تولید دټن په حساب | دماش مجموعی تولید دخروار په حساب | په اوسطه توګه دیوجریب ځمکی څخه دماش تولید په یو فصل کی دخروار په حساب | تو ل ټال ځمکه په جریب سره | ټول ټال ځمکه په هکتار سره | دیومن ماش تخمینی قیمت | جنس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 966 | 6133.333 | 1380000 | 1.5 | 920000 | 184000 | 700 | ماش |

**دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکه کی دخلکو د اشتغال نسبی کچه**

| دصنعت په برخه کی دبوختو کسانو شمیر | دتجارت اوترانسپورت په برخه کی دبوختو کسانو شمیر | په ټول ټال ځمکه کی دبوختو کسانو تخمینی شمیره په یو فصل کی | په اوسطه توګه د ۲ جریبه ځمکی لپاره دبوختو کسانو شمیر | ټو ل ټال ځمکه په جریب سره | ټول ټال ځمکه په هکتار سره | جنس |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 92000 | 92000 | 460000 | 1 | 920000 | 184000 | ماش |

## دوهمه برخه؛ دمیوه جات

**الف - انار :** کچیری په پورته۱۸۴۰۰۰ هکتاره ځمکی کی په هرجریب کی ۱۶۶ دانارو ونی وکرل شی نومجموعی شمیربه یی ۱۵۲۷۲۰۰۰۰.۰ ته ورسیږی کچیری په منځنی ډول هره ونه لس منه آنار وکړی نو ۱۵۲۷۲۰۰۰.۰ خرواره اناربه تولید کړی چه دټن په حساب به یی ټول ټال ۶۷۸۷۵.۵۵۵ ټنه انارو ته ورسیږی او کچیری په منځنی ډول دیو منه انارقیمت ۲۰۰.۰ افغانی وګڼل شی نو ناخالص عواید به یی ۳۰۵۴۴۰۰۰۰۰.۰ ته ورسیږی او ۹۲۰۰۰.۰ خلکو ته په دایمی او ۹۲۰۰۰۰۰.۰خلکو ته به په موقتی توګه دکارزمینه برابره شی.

| اوحاصلات عواید تخمینی نسبتا دحاصلاتو دکر دانارو سخه ځمکی دخړوبیدونکی دبند خان دکمال | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ترلاسه سخه دانارو مجموعی کیدونکی یو په عواید ناخالص په دملیونیکی کال حساب | دانارو تولید مجموعی حساب په دټن | ونی ی دیو دانارو سخه مجموعی حاصلات په دمن حساب | په توګه اوسطه په یکی ځمکی یوجریب شمیر دونو ددانارو | په ځمکه ټال ل ټو سره جریب | ټال ټول په ځمکه سره هکتار | دیومن انارو تخمینی قیمت | جنس |
| 3054.4 | 67875.555 | 10 | 166 | 920000 | 184000 | 200 | انار |

| یکی برخه په دانارو کچه نسبی باشتغال د دخلکو یکی ځمکه دخړوبیدونکی دبند سخه خان دکمال | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| په دصنعت دبوختو یکی برخه شمیر کسانو | توګه دایمی په کسانو دبوختو شمیر | لس د توګه اوسطه په لپاره ځمکی جریبه شمیر کسانو دبوختو توګه موقته په | د توګه اوسطه په ځمکی جریبه لس کسانو دبوختو لپاره توګه دایمی په شمیر | ټال ل ټو په ځمکه سره جریب | ټال ټول په ځمکه سره هکتار | جنس |
| 92000 | 92000 | 1 | 1 | 920000 | 184000 | انار |

**ب انګور :** کچیری په پورته ځمکه کی د انګوروتاکان کینښول شی داچی په معیاری ډول په یو جریب ځمکه کی د ۳۳۳ تاکان کینښول کیږی نو په ۹۲۰۰۰۰.۰ جریبه ځمکه کی به ټول ټال ۳۰۶۳۶۰۰۰۰.۰ تاکان کینښول شی که په اوسط ډول سره یو تاک دانګورو ۵ منه انګور وکړی نو ټول ټال به ۱۵۳۱۸۰۰۰۰ خرواره انګور تولید ولری چه د ټن په حساب ۱۳۶۱۶۰ ټنه کیږی چه ۳۰۶۳۶۰۰۰۰۰.۰ افغانی مجموعی ناخالص عاید ورڅخه ترلاسه کیدلای شی .

| ترلاسه سخه دانګورو مجموعي کیدونکې یو په عواید ناخالص په دمیلیون کې کال حساب | دانګورو تولید مجموعي حساب په دتن | سخه تاک دیو دانګورو مجموعي حاصلات په دمن حساب | په توګه اوسطه په یې ځمکې یوجریب شمیر دتاکانو دانګورو | په ځمکه تاپال ل تو سره جریب | تاپال تول په ځمکه سره هکتار | دیومن انګورو تخمیني قیمت | جنس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اوحاصلات عواید تخمیني نسبتا دحاصلاتو دکر دانګورو سخه ځمکې دخړوبیدونکې دبند خان دکمال | | | | | | | |
| 1531.8 | 68080 | 5 | 333 | 920000 | 184000 | 100 | انګور |

| توګه موقته په کسانو دبوختو شمیر | توګه دایمې په کسانو دبوختو شمیر | توګه اوسطه په۱ لپاره ځمکې جریبه شمیر کسانو دبوختو توګه موقته په | د توګه اوسطه په ځمکې جریبه لس کسانو دبوختو لپاره توګه دایمې په شمیر | تاپال ل تو په ځمکه سره جریب | تاپال تول په ځمکه سره هکتار | جنس |
|---|---|---|---|---|---|---|
| یې برخه په دانګورو کچه نسبي استغال د دخلکو یې ځمکه دخړوبیدونکې دبند سخه خان دکمال | | | | | | |
| 1840000 | 920000 | 2 | 1 | 920000 | 184000 | انګور |

ګرافونه






Tel: 0202522472 Web: www.nwara.gov.af Email: chiefofstaff.nwara1398@gmail.com Fb: www.facebook.com/NWARA.af Twitter: twitter.com/Nwara_afghan


داستخدام کچه دغنمو په برخه کی
184000
920000
1
460000
په هکتار سره  ټول ټال ځمکه
ټو ل ټال ځمکه په جریب سره
په اوسطه توګه د ۲ جریبه ځمکی لپاره  دبوختو کسانو شمیر
په ټول ټال ځمکه کی دبوختو کسانو تخمینی شمیره په یو فصل کی


دکمال خان دبند دخړوبیدونکی ځمکی څخه دترلاسه کیدونکو جواروحاصلات اودیو فصل ناخالص عاید
200
184000
920000
166
10
6133.333
966
دیومن انارو تخمینی قیمت
ټول ټال ځمکه په هکتار سره
ټو ل ټال ځمکه په جریب سره
په اوسطه توګه په یوجریب ځمکی کی ددانارو  دونو شمیر
دیو ی ونی سخه دانارو مجموعی حاصلات دمن په حساب
مجموعی  دانارو تولید دټن په حساب
دماش  سخه ترلاسه کیدونکی مجموعی ناخالص عواید په یو فصل کی دمیلیون په حساب


داستخدام کچه دجوارو په برخه کی
184000
920000
1
460000
په هکتار سره  ټول ټال ځمکه
ټو ل ټال ځمکه په جریب سره
په اوسطه توګه د ۲ جریبه ځمکی لپاره  دبوختو کسانو شمیر
په ټول ټال ځمکه کی دبوختو کسانو تخمینی شمیره په یو فصل کی


دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکی دماش دحاصلاتو
نسبتا تخمینی عواید اوحاصلات
966
6133.333
10
166
920000
184000
200
دماش سخه ترلاسه کیدونکی مجموعی ناخالص عواید په یو فصل کی دمیلیون په حساب
دانارو مجموعی تولید دټن په حساب
دیو ی ونی سخه دانارو مجموعی حاصلات دمن په حساب
په اوسطه توګه په یوجریب ځمکی کی ددانارو دونو شمیر
ټو ل ټال ځمکه په جریب سره
ټول ټال ځمکه په هکتار سره
دیومن انارو تخمینی قیمت


دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکه کی دخلکو د
اشتغال نسبی کچه دپنبی په کرنی سره
92000
92000
460000
1
920000
184000
دصنعت په برخه کی دبوختو کسانو شمیر
دتجارت اوترانسپورت په برخه کی دبوختو کسانو شمیر
په ټول ټال ځمکه کی دبوختو کسانو تخمینی شمیره په یو فصل کی
په اوسطه توګه د ۲ جریبه ځمکی لپاره دبوختو کسانو شمیر
ټو ل ټال ځمکه په جریب سره
ټول ټال ځمکه په هکتار سره


دکمال خان دبندڅخه دخړوبیدونکی ځمکی دپنبی
دحاصلاتو نسبتا تخمینی عواید اوحاصلات
966
6133.333
10
166
920000
184000
200
دماش سخه ترلاسه کیدونکی مجموعی ناخالص عواید په یو فصل کی دمیلیون په حساب
دانارو مجموعی تولید دټن په حساب
دیو ی ونی سخه دانارو مجموعی حاصلات دمن په حساب
په اوسطه توګه په یوجریب ځمکی کی ددانارو دونو شمیر
ټو ل ټال ځمکه په جریب سره
ټول ټال ځمکه په هکتار سره
دیومن انارو تخمینی قیمت




## نتیجه ګیری (Conclusion)

خلاصه داچی دکمال خان دبند څخه خړوبیدونکی ځمکی دهیواد په اقتصاد کی رغنده رول لوبولای شی ځکه چه کرنه دهیواد داقتصاد لپاره دملاتیر ګڼل کیږی اوداچه دکمال خان دبند څخه خړوبیدونکی ځمکه د آب اوهوا اوکیفیت له پلوه هر ډول حاصل ته آماده ده نو لری نده چه له یوی خوا به دګران هیواد دصنعت اوتجارت لپاره د دخامومواد دکندو حیثیت غوره کړی اوله بله پلوه به زیات شمیر وګړی په دندو باندی وګمارل شی چه له پلوه به یی دخلکو عاید لوړ ،دژوند سطحه لوړه اودوباره مصرفی اوسرمایوی توکو ته تقاضا زیاتوالی ومومی او دهیواد داقتصادی څرخ په سرعت کی به لازیات موثر تمام شی داچه دکمال خان دبند څخه خړوبیدونکی ځمکه باندی کوم ډول کرنه ترټولو زیاته موثره تمامیدلای شی لازیاتی څیړنی ته اړتیاده.



Tel: 0202522472 Web: www.nwara.gov.af Email: chiefofstaff.nwara1398@gmail.com Fb: www.facebook.com/NWARA.af Twitter: twitter.com/Nwara_afghan

## ماخذونه References


۱ - نظام خپلواک، چارو د تنظیم ملي اداره د اوبو د جدی-۷-۱۳۹۹ ه ش کال

۲ -
https://www.google.com/url?sa=t&rct=j&q=&esrc=s&source=web&cd=&cad=rja&uact=8&ved=2ahUKEwi8ktXGpq_vAhUElFwKHeB9BRAQFjAFegQIFhAD&url=https%3A%2F%2Fwww.bbc.com%2Fpersian%2Fafghanistan-39653277&usg=AOvVaw1r6QzAUjIvTGqq19qblFIB

۳ -
https://www.google.com/url?sa=t&rct=j&q=&esrc=s&source=web&cd=&cad=rja&uact=8&ved=2ahUKEwi8ktXGpq_vAhUElFwKHeB9BRAQFjAJegQIBRAD&url=https%3A%2F%2Fsubhekabul.com%2Funcategorized%2Fkamal-khan-band-history%2F&usg=AOvVaw3J03Mwf-Ie9CZ3HUq1PvhU

۴ ــ
https://www.google.com/url?sa=t&rct=j&q=&esrc=s&source=web&cd=&cad=rja&uact=8&ved=2ahUKEwj--4uBp6_vAhWJOcAKHfqpD50QFjAIegQIBRAD&url=https%3A%2F%2Fid-id.facebook.com%2F208195492582381%2Fposts%2F1306988249369761%2F&usg=AOvVaw3P-XZYif9GKz0j7lB86tpw

۵ ــ
https://www.google.com/url?sa=t&rct=j&q=&esrc=s&source=web&cd=&cad=rja&uact=8&ved=2ahUKEwiK9JS6p6_vAhXKNcAKHQZBD-MQFjAFegQIBhAD&url=https%3A%2F%2Ffa.wikipedia.org%2Fwiki%2F%25D8%25A8%25D9%2586%25D8%25AF_%25DA%25A9%25D9%2585%25D8%25A7%25D9%2584_%25D8%25AE%25D8%25A7%25D9%2586&usg=AOvVaw12Ze8Fh9oVbs4UxZIsc3WP



National Water Affairs Regulation Authority ۱۳۹۸

# د کمال خان بند تخنیکی جوړښت

ولی جان سروری[1]

د بُست پوهنتون د انجنیری پوهنځي رئیس او استاد

**لنډیز:**

اوبه یوه حیاتی ماده ده د یوه هیواد په خاصه توګه د افغانستان غوندی یو زراعتی هیواد اقتصادی حالت په اوبو پوری تړلی، افغانستان د نړی په سطحه په بی ساری توګه خوړی اوبه لری، په افغانستان کی د اوبو سالم مدیریت افغانستان په یو قوی صنعتی او صادراتی هیواد بدلولی سی. د سطحی اوبود کنترولو او راګرځولو لپاره د غوره اوقوی هایدروالکتریسیتی او ابیاری بندونو جوړونه د اوبو څخه د استفادی تخنیکی لاره ده. د کمال خان بند د جنوب غرب حوزی (هلمند سیند ) د اوبو د ښه مدیریت او سالمی استفادی یو اقتصادی او تخنیکی طرحه ده.کمال خان بند د نیمروزولایت په ستراتیژیک موقف کی رغنده رول لری، کمال خان بند په تخنیکی ډول د نیمروز ولایت په چهاربرجک ولسوالی کی د هلمند سیند په مسیرکی جوړسوی،تخنیکی کارونه یی په دری فازه کی چه دریم فاز یی اوس تکمیل سوی ترسره سوی کمال خان بند یو خاورین بند چی 2.74 کیلومتره اوږدوالی او 16 متره جګوالی لری د 52 میلیونه مترمکعب اوبو د ذخیره کولو ظرفیت او د 80 زره هکتاره کرنیزی ځمکی لپاره د ابیاری د یو منظم سیستم په اساس د ابیاری اوبه برابروی.همدارنګه د 9 میګاواټه بریښنا تولیدوی چه د کمال خان بند اوشاوخوا سیمولپاره به د استفادی وړوی.

**کلیدی کلمات: د کمال خان بند پیژندنه، اوبو حجم، تولنیز او اقتصادی ارزښت**



Tel: 0202522472 Web: www.nwara.gov.af Email: chiefofstaff.nwara1398@gmail.com Fb: www.facebook.com/NWARA.af Twitter: twitter.com/Nwara_afghan

## سریزه:

معلومه خبره ده چه اوبه د الله ج یو غټ نعمت دی نه یوائې دا چه د انسانانو ژوند د اوبو سره تړلی بلکی د یو هیواد په پرمختګ کی عمده رول لری په خاصه توګه د افغانستان غوندی یوه هیواد لپاره چه د زراعت لپاره ښه او مناسبه اب وهوا او په کافی اندازه کرنیزی ځمکی لری د اوبو مهارول او د اوبو د مختلفو سرچینو څخه په کافی اندازه استفاده کول د افغانستان لپاره لویه لاسته راوړنه بللی سو. همدارنګه پوهیږو چه افغانستان د روانو خوړو اوبو ښه سرچینی لری چه د تاریخ په مختلفو پړاوونو د دغه اوبو څخه په کافی اندازه ګټه نه ده پورته سوی او په بی ساری توګه یی ګاوندی هیوادونو ته جریان پیداکړی او هغوی د دغه اوبو څخه د خپلو هیوادونو په پرمختګ کی ګټه اخستی،اوس د دی وخت رارسیدلی چه دغه اوبه باید مهاراود ګاوندی هیوادونو څخه راوګرځول سی. چی د دی هڅو په لړکی د افغانستان په مختلفو سیندونو باندی د نوی بندونو چاری شروع او یاهم مخکنیوبندونو ته پرمختګ ورکړل سوچه د دی بندونو څخه یو هم د کمال خان بند یادولی سو کمال خان بند د افغانستان یو له عمده او غټو بندونو څخه دی چه د هلمند سیند په اوبو باندی د نیمروز ولایت د چهاربرجک ولسوالی کی جوړسوی چه د دی بند په تکمیل سره هغه اضافه اوبه چه ګاوندی هیواد ته تللی راوګرځیدل چه د افغانستان په خاصه توګه د نیمروز ولایت په ټولنیز،اقتصادی،سیاسی او اقلیمی حالت باندی به مثبت تاثیرولری په دی تخنیکی مقاله کی مونږد کمال خان بند په ټولنیز،اقتصادی،سیاسی او کرنیز ارزښت او تخنیکی جوړښت باندی بحث او څیړنه کړی او د معلوماتو د راټولولپاره د بعضو معتبروماخذونو څخه استفاده سوی همدارنګه د چارو لاښه والی په منظورځینی علمی سپارښتنی سوی.

## ۱. تاریخچه:

کمال خان څوک و او ولې يې په نوم یو ستر بند نومول شوی؟

کمال خان چې یو وطندوســـته افغان و، ســـلګونه کاله وړاندې يې په نیمروز ولایت کې ژوند کاوه. هغه د نورو افغانانو په څېر هیله درلوده چې د هلمند سیند مهار او مدیریت شي، څو د نیمروز خړې دښتې لکه جنت ښېرازې کړي او د هېواد زر (اوبه) نورو ته وړیا و نه بهېږي او تر څنګ يې د دې سیمې خلکو ته د کار زمینه برابره کړي هغه په داسې حال کې چې نه خلکو باور کاوه او نه يې له ده سره مرسته کوله، د خاورې او لرګيو په واسطه، د دې ولایت په چهاربرجک ولسوالی یو بند جوړ کړ چې نسبي اوبه يې مدیریت کړې او د هغه په وسیله شاوخوا ځمکې زرغونې شوې او د سیستان ښکلا يې لا ډېره کړه. وروسته دغه بند د هغه په نوم ونومول شو.ګوډ تیمور د لښکرکشی پر مهال پر دې سیمه برید وکړ، کمال خان يې پر وړاندې راپورته شـــو چې له بده مرغه په پایله کې يې د هغه نږدې ملګري شـــهیدان او یاد بند له منځه لاړ. په دغه جګړه کې یاد بند ویجاړ شـــو، له هغه وروســته هم د دی بند د جوړیدلو لپاره د وخت د حکومتونو له لوری هڅی ســوی  په ۱۳۴۵ کال کې د کمال بند د جوړولو سـروی پیل شـوه او کار هم ورباندی شـروع شـو چې د داوود خان وخت کې یی کار چټک شو او ویل کیږی چې داوود خان پخپله ددی بند څخه لیدنه کړی وه خو د داخلی جنګونوله امله ددی بند کاربند شو او په میلونهاو ډالره ماشینونه او وسایل لوټ شول، د نوی حکومت د جوړیو څخه وروسته په ۱۳۸۵ کال کې د دی بند باندی بیا کارونه شـروع شـول، چې د ایران هېواد د مخالفتونو سـره مخ وواوډیربریدونه د ایران لخوا دې بند باندی شـوی دی، اوس مهال ددی بندساختمانی چاری په درومرحلوکی پای ته رسیدلی چی ددریمی اواخری مرحلی چاری ئی د ۲۰۱۷ کال داپریل په میاشت کی ددافغانستان دجمهوررئیس محمداشرف غنی له خواافتتاح شول. چه د دی دریمی یا اخری مرحلی چاری یی

باید د څلورکلونو په جریان کی تکمیل ســوی وای دادی اوس د دی مرحلی چاری تکمیلی ســوی او ګټی اخســتنی ته اماده دی.[i]

## ۲. اوبه او د یوهیواد په پرمختګ کی یی اهمیت:

او به د ژوند یوه حیاتی ماده ده نه یواځی دا چی د ژوندیو موجوداتو ژوند د اوبو ســــره تړلی بلکی او به د ژوند د نورو ضرورتونو او همدارنګه د هیوادونو د پرمختګ یو عمده وسیله ده.
خوږې اوبه زموږ دا سې یوه شتمني او دا سې یوه خزانه ده چې لوی خدای ج موږ ته راکړې ده او نور کم خلک ؛ عرب او عجم ترې برخمن دي .د دې لپاره چې دافغانستان دا شتمني وپېژنو د اوبوپه اړه لاندی معلومات ستاسی سره شریکوو.

### ۱.۲ د نړۍ د اوبو حجم:

د ځمکې د مخ اویا(70)سلنه پر اوبو پوښل شوې .په دې کې اوه نوي (97)سلنه تروې او یوازې درې(3)سلنه اوبه خوږې دي.نړیوال بانک وایي چې یوازې دوه نیم (2.5)سلنه اوبه خوږې دي او ملکري ملتونه بیا وایي چې اوس په نړۍ کې یو اعشاریه دوه (1.2) ملیارده وګړي ، چې د ځمکې د کرې اتلس (18)سلنه خلک جوړوي ، همدا اوس خوږو اوبو ته لاسرسی نه لري.

### ۲.۲ د افغانستان د اوبو حوزې او سرچینې:

افغانســـتان د اوبو پنځه لویې حوزې لري ، چې د شــمال ، امو ، هلمند ، هریرود او کابل د حوزو په نومونو یادېږي، یوازې د هلمند د حوزې په باب له ایران ســره د حقابې یو تړون شــته ، نورو ګاونډیو ســره په دې هکله کوم تړون نه شته.نورې وړې حوزې هم شته ، خو په ټوله کې په همدې نومونو کې رالنډېږي . د اوبو د سرچینو له مخې افغانستان په سربند کې دی ، یعنی زیاتره سرچینې یې خپلې دي ، نو له حقوقي ، قانوني او د حقابې د حقوقو له مخې په قوي دریځ کې دی.

### ۳.۲ د افغانستان د اوبو حجم:

افغانستان په کال کې پنځه اویا(75)ملیارده متره معکبه اوبه لري ، چې له هغې جملې څخه یې اوه پنځوس (57 ) ملیارده متره معکبه اوبه د ځمکې پر سر او نورې اته لس (18) ملیارده یې تر ځمکې لاندې اوبه دي.
له نیکه مرغه چې داوبو ډېر زیاته برخه ، یعنی تر نوي (۹۰) ســلنې پورته ټولې یې خوږې اوبه دي ، د خوږو اوبو د مقدار له پلوه کیدای شــي افغانســتان په نړۍ کې ســاری و نه لري .خو په خواشینی سره باید ووایو چې زموږ د ځمکې د سطحې له ټولو اوبو څخه یوازې شل ملیارده (20) ملیارده متره معکبه اوبو څخه په هېواد کې ګټه پورته کېږي او نورې اوه دېرش(37) ملیارده متره معکبه اوبه په وړیا ډول د ګاونډیو هېوادونو ځمکې او هوسونه خړوبوي.
د کمال خان بند د دغه خوږو په کنترول او مهارولو کی د افغانســـتان په جنوبی غرب حوزه یا د هلمند د اوبوپه حوزه کی عمده رول لری هغه اوبه چه د ایران هیواد ســـره د 1351 کال د تړون د حقابی څخه اضـــافه وایران هیواد تللی ددی بند پواسطه راوګرځول سوی چه د دغه اوبو څخه د برقی انرژی په ترلاسه کولو همدارنګه د کرنیزو ځمکو لپاره د اوبولګولو لپاره استفاده وسی.

## ۳. د هلمند د اوبو حوزه (هلمند سیند) :

د افغانستان د اوبو تر ټولو لویه حوزه د هلمند سیند حوزه ده افغانستان یو له هغو هېوادونو دی چې له ګاونډیانو سره ډېرې شریکې اوبه لري. دهلمند سیند دافغانستان دډیرو لویو سیندونو څخه ګڼل کیږی ،له شروع څخه تر پایه پوری ټول دافغانستان په خاوره کی بهیږي دبهر له سطحی څخه( ۳۸۰۰ ) مترو به جګوالي سره د هزاره جات د غرونو څخه سرچینه اخلی او د (۱۴۰۰ ) کیلو مترو په اوږوالی دافغانستان جنوب او جنوب لویدیزو سیمو ته بهیږی ، دهلمند سیند د

شروع څخه تر ګرشک پورې زياتې ځمکې خړوبوي او سرعت يې ډير زيات دی د ګر شک څخه وروسته لوړوالی يې( ۸۰۰ ) مترو ته راکميږي عرض يې زياتيږي دقلعه بست په سيمه کې دارغنداب سيند ورسره يوځای کيږي.

دهلمند دسيند اوبه غير منظمي دي او داوبو اندازه يې دکال په جريان کې د ۱۵۰ څخه تر ۲۰۰۰ متر مکعب پورې تغير خوري ،دغه تغيرات کله کله ځمکې تراوبو لاندې کوي او کله هم په يوه کوچنۍ سيمه کې محدودې وي دهلمند دسيند شاوخوا سيمې وچې او سحرايي اقليم لري او دخلکو ژوند دسينداوبو پورې تړلی ده نو د سينددغه تغيرات د خلکو ژوند دستونزو سره مخامخ کړيده . دهلمند دسيند دپاسه دکجکي په سيمه کې او دګرشک په سيمه کې دبريښنا دتوليد لپاره استفاده کيږي او د بغرا نهر هم دهلمند دسيندڅخه سرچينه اخلي دکجکي بند دبريښنا ظرفيت په يوه ساعت کې ۳۳۰۰۰ او د ګرشک د بريښنا ظرفيت ۲۸۰۰ کيلوواټه فی ساعت ته رسيږي دهلمند دسيندڅخه د نهرونو او ويالو پواسطه ۱۴۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبيږي دهلمند دسيند مرستيالان په ارزګان کې کميان او ترين او دسيندونو په برين کوټ کې يوځای کيږي او په هرات کې هلمند سيند ته تويږي ،د موسی قلعه او دتو پانی رود د سنګين په سيمه کې ورسره يوځای کيږي.

## ۴. د کمال خان بند ټولنيز ،اقتصادی, کرنيز او بريښنايي ارزښت:

### ۱.۴ ټولنيز ارزښت:

د کمال خان بند په جوړيدلو سره به 52 ميليونه مترمکعب اوبه ذخيره او تقريبا 80 زره هکتاره شاړه ځمکه به ورسره اباده او د زراعت لپاره اماده سي چې په دی اساس به په دې سيمه کې د خلکو هستوګنه هم شروع سي که چيرې د افغانستان د مختلفو سيمو او قومونو څخه خلک دلته ميشت سي يو خو به د سيمې په زراعتي ابادۍ کې عمده رول ولرې همدارنګه به د سيمې د مختلفو قومونو او خلکو ترمنځ يو شريکه ټولنيز ژوند ته زمينه مساعده سوې وې چه د افغانستان د مختلفو اقشارو او قومونو په نږديوالی او ټولنيزواړيکو کې بنه ثابت کيدلای سی.

### ۲.۴ اقتصادی ارزښت:

د افغانستان او ايران ترمنځ د هلمند سيند داوبو د ويش د 1351 کال د کب د مياشتي د تړون مطابق بايد ايران ته د هلمند د اوبو څخه 850 ميليونه مترمکعب اوبه د کاله ورکړل سوې وای خو د کورنيو جګړو او نورمشکلاتو په وجه دغه تړون د ايران هيواد د لوری عملی نه سو د څيړنو له مخې ايران په تيرو 48 کلونو کې د شوی تړون څخه 75 سلنه اضافه اوبه وړی.

چه په دی حساب د افغانستان دولت بايد د دغه مقدار اوبو قيمت د ايران څخه وغواړی چه که د نړيوالو تړونونو پربنسټ د هر مترمعکب اوبو بيه 50 سلنه اټکل کړو نو د 48 کلونو اوبو قيمت به

$$850000000*75\%=637500000*0.5cent =318750000*48=1.530000000000$$

1.53ميلياره ډالره وی همدارنګه که چيری د ايران دولت د 1351 کال د تړون څخه د اضافه اوبو غوښتنه کوی نو د افغانستان دولت بايد د اوبو د نړيوالو قيمتونو په نظرکی نيولو سره اوبه ورباندی خرڅې کړی او قيمت يې بايد واخلی فرضا که چيری افغانستان ايران ته د کاله د تړون د حقابه اوبو څخه 300 ميليونه مترمکعب اضافه ورکړی د دی څخه به د افغانستان کلنی عايد 150 ميليونه ډالره وی.

او که چيری افغانستان وکولای سی هغه اوبه چه ګاونديو هيوادونو ته ځی کنترول او راوګرځوی او په سالمه توګه يې په هيواد کی دننه مديريت کړی په سالمه توګه د بريښنا په توليد او زراعتی چارو کی ورڅخه استفاده وکړی نه يوازې دا چې د هيواد وزګاره خلکوته به دندی او کاری فرصتونه برابر سی د هيواد کلنی عوايد به ورسره زيات سی او افغانستان به د يو وارداتی هيواد څخه په يو ځان بسيا صادراتی هيواد تبديل سی.

## ۳.۴ کرهنیز ارزښت:

افغانستان یو زراعتی هیواد دی چه تقریبا 80 سلنه وګړی یی په زراعت مصروفه دی چه په دی حساب د افغانستان تقریبا نیم تولیدات زراعتی دی صنعت تراوسه په افغانستان کی په خپلولومړنیو مرحلو کی چه تقریبا 1 سلنه وګړی یی په صنعت مصروفه دی.

پوهیږو د کمال خان بند د تکمیل سره د سیمی د شاړو ځمکو څخه به اتیازره هکتاره ځمکه د زراعت لپاره اوبه پیداکړی چه د یو منظم اوسیستماتیک ابیاری سیستم په جوړولو سره دغه اندازه ځمکه اباده سی د یادی سیمی د اقلیمی حالت په نظر کی نیولو سره په نوموړی سیمه کی د غنمو ،ماشو او هندوانو کښتونو ښه وده کوی. نو که چیری مونږو یواځی د غنمو کلنی تولید دلته محاسبه کړو نو لیکلای سو.

Present crop yields kgs/hectare

| Crop | Upper Helmand project areas | Non project areas Zaranj | Kang | Chakhansur | Chahar-Burjak |
|---|---|---|---|---|---|
| Wheat | 2520 | 835 | 518 | 518 | 1115 |

80000hec*1115kg=89200000kg=89200ton

په کلنی ډول به د غنمو تولید 89200 ټنه وی.

داچی د نیمروز ولایت د ځمکی د میل د (0-210) درجی کی قرار لری چه په دی اساس دغه سیمی د زراعتی ځمکو، د شهرکونو د تاسیس، باغونوجوړولو ، د صنعتی پارکونو جوړولو او سړکونو د جوړولو لپاره مناسبی دی.

## ۴.۴ بریښنایی ارزښت:

اوسمهال افغانستان د بریښنا له کبله یو اړهیواد ده، موږ ۷۰ سلنه خپله د اړتیا وړ بریښنا له ګاونډیو هیوادونو او په ځانګړې توګه له تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران څخه واردو اوله دې کبله د کال شاوخوا ۲۲۰ تر ۲۷۰ ملیونه ډالره پیسي له لاسه ورکوو .که چېرې د افغانستان د برېښنا له ټولو داخلي توليدي سرچينو څخه ګټه پورته شي کوئ شي په ټولیزه توګه د کال ۱۲۲ زره مېګاواټه بریښنا تولید کړي او دا په داسي حال کي ده چي بریښنا ته د افغانستان کلنی اړتیا په ټولیزه توګه ۴۷۰۰ میګا واټه ده .د بریښنا د تولیدي سرچینو څخه یو هم زموږ د اوبو بندونه او له جملې څخه یې د کمال خان بند ده چي بیارغوني سره کولئ شي ۸ تر ۹ مېګاواټه بریښنا تولید کړي .چي یاده بریښنا د افغانستان او په ځانګړې توګه د نیمروز ولایت په تولیدی او روښنايي اهدافو کي مهم رول لوبوئ شي.

## ۵. د کمال خان بند چاپیریالی او اقلیمی تاثیرات:

نیمروز د هیواد له ګرمو ولایتونو څخه دی چي په لوېدیځ کې له ایران او په سویل کې له پاکستان سره پوله لري، همداراز په شمال کې له فراه او ختیځ کې له هلمند ولایتونو سره په ګاونډ کې پروت دی چي له جغرافیایي پلوه ځانګړی اهمیت لري .نیمروز وچه او ګرمه هوا لري چي په اوړي کي توده او وچه او په ژمي کي معتدله وي .په دغه ولایت کي د لویو او کوچنیو سیندونو شتون، د نوموړي ولایت د اوسېدونکو او څارویو لپاره مناسب شرایط برابر کړي دي .هلمند سیند چي د هندوکش له غرونو سرچینه اخلي په همدې سیمه کي د هیواد لوېدیځ او سویل ته بهېږي .د پيچليو درو او غرونو ترمنځ ددغه سیند بهېدل د کال په بېلابېلو فصلونو کي د ځمکو د ویجاړېدو او سیلابونو د راتلو لامل کېږي .دا په داسي حال کي دي چي ددغه سیند په اوږدو کي د اوبو د بندونو د جوړولو، د برېښنا د تولید او کرني د ودې او پراختیا په موخه د شاړو ځمکو د خړوبولو لپاره په بشپړه توګه شرایط برابر دي .پر همدې لاره له دې مخکي کجکي بند او په روان کال کي کمال خان بند ګټي اخیستو ته سپارل شوی چه په دی سره به د سیمی وچو سیموته اوبه ورسیږی اودښتی سیمی به زرغونی او

بنــایســته کړی او د ســیمی اقلیمی اوچاپیریالی حالت به ورســره تغیروکړی او همدارنګه به جنوب غرب حوزه د کال په اوږدوکی د وچکالی څخه وساتی دغه بندونه د ځمکی لاندی اوبو سطحه هم لوړوی.

## ۶. د کمال خان بند جوړښت:

موقعیت : کمال خان بند د اوبو ګرځونی یو مهم بند دی چه د نیمروز ولایت د چهاربرجک ولسوالی په شمال 18 کیلومتری او د نیمروزولایت په 95 کیلومتری کی موقعیت لری.

د بند جګوالی : 16m

د بند اوږدوالی : 2.274km

د بند پورتنی عرض : 9m

د بند لاندنی عرض : 90m

د بند ډول (نوعیت ) : Gravity

د پرچاوی ډول (نوعیت ) : Ogee

د بحر د سطحی څخه جګوالی : 532

د بریښنا د تولید اندازه : 9mwh

د بند د اوبو ذخیره : 52 میلیونه مترمکعبه

کمال خان بند یو هایدروالیکتریسیتی او د اوبولګولو بند دی هایدروالیکتریسیتی بندونه هغه بندونو ته ویل کیږی چه پراوبو باندی د اوبو څخه د بریښنا د په لاس راوړلو لپاره جوړیږی. کمال خان بند د 9 میګاواټه بریښنا د تولید ظرفیت لری همدارنګه کمال خان بند د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره هم اوبه ذخیره کوی په دی اساس یو د ابیاری یا اوبولګولوبند هم ورته ویل کیږی.

## ۷. د کمال خان بند تخنیکی جوړښت:

دا چه کمال خان بند په یوه هواره سیمه کی جوړسوی د سیمی میل یی کم دی د اوبو د ذخیره کولو لپاره د بند اوږدوالی زیات دی په دی اساس د بند ساختمان خاورین بند په نظر کی نیول سوی همدارنګه د پرچاوی په موقعیت کی یو جاذبوی کانکریټی بند جوړسوی.

Gravity dam یا جاذبوی بندونه هغه جامدو بندونو ته ویل کیږی چه د کانکریټو او یا هم نورو کلکو ساختمانی موادو څخه د سیندونو په عرض باندی د اوبو د ذخیره کولو لپاره جوړیږی د دغه ډول بندونو عرضی مقطع ذوذنقه ای په نظرکی نیول کیږی چه لاندی عرض به نسبت پورتنی عرض ته زیات وی. په دی ډول بندونو کی د عرضی مقطع ابعاد په داسی ډول ټاکل کیږی چه په بند باندی ټول عمل کوونکی قواوی یا بارونه د خپل وزن په اساس وزغمی.

هغه قواوی یا بارونه چه په دی ډول بندونه باندی عمل کوی په لاندی ډول دی.



1 . د بند خپل وزن

2 . د اوبو فشار

3 . په قاعده کی د خاوری فشار

4 . د اوبو موجی فشار

5 . د رسوبی موادو فشار

6 . د یخ بند فشار

7 . د باد فشار

8 . د زلزلی قوی

9 . حرارتی بارونه

## ۸. خاورین بندونه:

خاورین بندونه هغه بندونو ته ویل کیږی چه بدنه یی د مختلف ډوله خاورو څخه د طبقو په شکل جوړیږی دا ډول بندونو په هوارو او لږ میل لرونکو سیمو کی جوړیږی دا ډول بندونه د ذوذنقه ای عرضـی مقطع لرونکی وی همدارنګه په دی ډول بندونو کی د اوبو د نفوذ او خاوری د رژیدو د مخنیوی لپاره د خاورین بندونو مخ په کرش ډبرو پوښـــل کیږی ترڅو د باد اوباران پوا سطه تخریب نه سی. د کمال خان بند بدنه په خاورین ډول جوړ سوی ځکه د سیمی ارا ضی د دی ډول بندونو جوړولو ته جوړه وه چه لاندنی عرضی یی 90 متره او پورتنی عرض یی 9 متره ډیزاین سوی.

## ۹. د کمال خان بند ذخیره:

کمال خان بند دا چه په هواره منطقه کی جوړدی او د بند اوږدوالی یی د2.74 کیلومتره دی د 52 میلیونه مترمکعبه اوبو د ذخیره کولو وړتیا لری.

## ۱۰. ابګیرساحه :

کمال خان بند دا چه د هلمند سیند په مسیرکی پروت دی نو ټولی اوبه یی د هلمند سیند او د سیمی د سیلابونو څخه په ذخیره کی ذخیره کیږی.

## ۱۱. د کمال خان بند پرچاوه :

پرچاوه د بند د ذخیری څخه د اضافی اوبو د ردولو لپاره جوړیږی په سیلابی وختونو کی یا هغه وخت چه د بند په ذخیره کی اوبه زیاتیږی د دی لپاره چی په بند باندی اوبه وا نه وړی د بند لپاره پرچاوه جوړیږی ترڅو دغه اضافی اوبه د هغه لاری تیری سی اویا هم د بند د ذخیری خالی کولو او رسوباتو د پاکولو لپاره له دی لاری استفاده کیږی.

د کمال خان بند پرچاوه ogee ډول ده ogee پرچاوه د پرچاوی یو شکل دی چه اوبه په ارتفاعی ډول لاندی خواته پرچاوه کوی دغه پرچاوه ځانته ځانګری ساختمان او شکل لری چه د هغه په اساس په دغه نوم یادیږی. په شکل کی یی لیدلی سو.






## سپارښتنی:

۱. دا چه د کمال خان په  شاوخوا کی پراخی ځمکی موجودی دی په نوموړی سیمه کی باید د زراعتی ځمکوبرسیره د خلکو د اوسیدنی لپاره استوګنیزشهرکونه جوړسی او د افغانستان د مختلفو سیمو او قومونو خلکوته وویشل چه په سره به د افغانستان د مختلفوسیمو اواقوامونرمنځ اړیکی زیاتی همدارنګه به د سیمی ستراتیژیک اهمیت ورسره زیات سی.

۲. د همند سیند د عمومی حوزی د اوبو مقدار د لوړو لپاره دی د فرعی حوزو د اوبوښه مدیریت ترسره سی په دی معنی چه د فرعی حوزو د سیلابی اوبو لپاره دی چک ډیمونه جوړسی چه په دی سره د سیلابی اوبو څخه د هلمند او نیمروز ولایتونو په وچومنطقو کی هستوګن خلک همدارنګه کوچیان استفاده وکړای د دی ترڅنګ به د سیلابونو په کم والی ، د ځمکی لاندی اوبو د سطحی په لوړوالی د هلمند سیند د اوبو د مقدار په ډیروالی مثبت تاثیرولری.

۳. دا چه نیمروز ولایت یو سرحدی ولایت او چابهاربندر سره نږدی پروت دی د تجارت او صنعت په یو ښه مرکز بدلیدلای سی ددی لپاره هغه بریښنا چه د کمال خان بند څخه به تولید سی د کمال خان بند په سیمه کی دی یو صنعتی پارک جوړسی او د دغه بریښنا څخه دی استفاده وسی.

## ماخذونه :

1. Nwara.gov.af
2. INTEGRATED IRRIGATION AND POWER DEVELOPMENT HELMAND BASIN HELMAND BASIN
3. Water and Power Authority Republic of Afghanistan
4. Design Principles of earth fill dams
5. www.britannica.com

# د سیمي پر ثُبات د کمال خان د بند مثبتي آغېزي

عبدالودود طراح[1]

د بُست پوهنتون د مسلکي پراختیا د مرکز(PDC) امر او د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځئ استاد

**لنډیز:**

اوبه د جغرافیې وینه ده، هیڅ بدن له ویني پرته ژوند نه سي کولای . اوبه د ژوند اړتیا ده، انسان پرته له اوبو ژوند نسي تېرولای، اوبه د انسان په ژوند کښي مستقیم او غیر مستقیم ارزښت لري، په نړۍ کښي هیڅ ژوندی موجود له اوبو پرته ژوند مخته نسي وړلای؛ اوبه د ځمکي پر سر د سیندونو، ویالو، سمندرونو، بخار او کنګل په ډول شتون لري. افغانستان چې د منځنۍ او سویلي آسیا تر منځ موقعیت لري، دلته هم د اوبو پر سر ډېري ستونزي موجودي دي او د اوبو د کمښت ستونزه ډېره مهمه ده. په نړۍ کښي له دودیزو، نظامي او سیاسي ترینګلتیاوو سره سره چاپېریال او اقتصادي وضعیت هم د پام وړ دی. په هغه راپور کښي راغلي دي کوم چې د جانز هاپکنز پوهنتون تازه خپور کړی، چې په ۲۰۲۵م کال کښي به له هرو دریو نفرو څخه یو نفر په داسي هیواد کښي ژوند کوي چې هلته به د اوبو کمښت وي، دا په داسي حال کښي ده چې اوسمهال د نړۍ ۳۱ هیوادونه د اوبو له کمښت سره مخ دي او تر ۲۰۲۵م پوري چې هند هم پکښي شامل دی د نفوسو د ډېرښت له کبله به نور هم د اوبو له کمښت سره مخ سي.

**کلیدی کلمات: اوبه، د اوبو ارزښت، ثبات او ستونزی**

## سریزه:

اوبه د دې تر څنګ چې د انسانانو او حیواناتو په ورځني ژوند کښي اهمیت لري، د انسانانو په اقتصادي ژوند کښي هم خورا ارزښت لري .

د اوبو د اقتصادي اهمیت په کال ۱۹۹۹م کښي د وبلین په نړیوال کنفرانس کښي په نړیواله کچه مطرح سو او دا موضوع د یوویشتمي پېړی د ستراتیژیکو او حیاتي مسایلو په اجنداء کښي شامله سوه، د کنفرانس ګډونوالو د رایو په یووالي پرېکړه وکړه چې اوبه یوه اقتصادي ماده ده، د طبیعي سرچینو، لکه ځمکه، ځنګل، کان او ژویو بر خلاف د اوبو آغېز له سیاسي پولو هم بهر موجود وي؛ لکه د سیندونو جریان په ځو هیوادونو کښي .

د امریکایي ساینس پوهانو په اند په مریخ کښي هم د اوبو د شتون آغېزي لیدل سوي دي چې معلومیږي هلته اوبه وې، نو ژوند به هم وو، خو کله چې اوبه له منځه تللي دي، نو ژوند هم پای ته رسېدلی دی، اوسمهال ساینس پوهان وایي که موږ له اوبو سره احتیاط ونه کړو؛ نو زموږ ژوند به هم د مریخ په څېر سي، او دا يې هم ویلي، چې اوبه له تیلو هم ارزښتناکه ماده ده.

په تېرو وختونو کښي به جګړې د خاورو او ښارونو د نیولو پر سر وې، خو اوس کارپوهان اټکل کوي چې د راتلونکو جګړو یوه لویه برخه به د اوبو د سرچینو د کنټرول پر سر وي، چې په دې تعبیر سره یوازي په تېري پېړی کښي د هیوادونو تر منځ اووه جنګونه د اوبو پر سر رامنځته سوي دي. د اوبو مسله په نړی کښي نن سبا ډېره مهمه ده چې سیاستوال يې هم خورا اندېښمن کړي دي، د اوبو پر سر شخړي په ټولي نړی کښي شتون لري، ځکه چې په ټولي نړی کښي شاوخوا ۲۵۰ داسي سیندونه شتون لري چې له ځو هیوادونو څخه تېریږي.

همدا اوس د پاکستان او هندوستان تر منځ د اندوس پر سیند او همدارنګه د چین او نیپال، هندوستان او بنګلدېش تر منځ پر هغو سیندونو کړکېچ دی چې د همالیا له غرونو سرچېني اخلي او په یادو هیوادونو کښي بهیږي، دا سیندونه ۵۰۰ میلیونه خلکو ته اوبه برابروي.

په همدې ډول د قرغزستان، قزاقستان او تاجکستان تر منځ هم د آمو ، ارل او سري سیندونو پر سر جنجال دی، د دې تر څنګ په منځني ختیځ کښي د ایران- فلسطین او عراق – اسرائیلو ترمنځ د شاتل العرب اوبو او د ترکیې د ډیمونو پر سر جنجال شتون لري، دې ته ورته یو شمېر نور هیوادونه لکه د سوریې او عراق تر منځ د تاجرس سیند، د امریکا او مکسیکو، ارجنټاین او یورګوای، په افریقا کښي د زمبابوې، موزنبیک، بوتوانیا، چوبا، زیمبیا، د سینیګال او نایجریا ترمنځ او همدارسي د نړی په نورو برخو کښي هم د اوبو پر سر شخړي شتون لري.

## الف:- د ګاونډیو هیوادونو تر منځ د کړکېچ عوامل:

اوس اوبه یوه اقتصادي ماده ده چې د هیوادونو پر سیاسي او اقتصادي اړیکو ژوره آغېزه لري، پیټرهاکټ انګلیس ځمکپوه دی، هغه یو موډل وړاندي کړی دی، چې پکښي راغلي۱۲ عوامل دي چې په نړی کښي د ګاونډیو هیوادونو تر منځ شخړي رامنځته کوي، چې له دې ډلي شپږ يې د اوبو پر سر دي، چې دا عوامل عبارت دي له :

1. آزادو اوبو ته د هغو هیوادونو تمایل چې په وچه کښي پراته دي .
2. د اوبو د وېش پر سر کړکېچ.
3. د سیندونو د مسیر بدلول ګډو سیندونو ته.
4. له کوچنیو جهیلونو څخه د ګټي اخیستني پر سر اختلاف.
5. د سیند په اوړدو کښي د اوبو پېټول.
6. په مصنوعي ډول له وریځو باران.

## ب:- د اوبو نړيوال وضعيت:

د ملګرو ملتونو د اوبو پروګرام د څېړنو او ارزونو له مخي هغه لس هيوادونه چي د اوبو له ډېرو ستونزو سره مخ دي له سومالیې، موریتانیا، سوډان، نایجریا، عراق، ازبکستان، پاکستان، مصر، ترکمنستان او سوریې څخه عبارت دي.

د افغانستان درې ګاونډيان، پاکستان، ازبکستان او ترکمنستان د اوبو له کمښت سره مخ دي، چي دا ستونزې بيا تر افغانستان پوري هم رسيږي؛ څکه موږ له دوئ سره ګډي اوبه لرو، خو البته بې له پاکستانه، (نيازی.۱۳۹۷م:۳).

د اوبو پورتنې ارزښت ته په پام سره په۱۹۲۹م کال کښي د مارچ پر۲۲ نېټه د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي اسامبلي غونډه دايره سوه او د مارچ ۲۲ نېټه يې د اوبو نړيواله ورځ وټاکله او په ۱۹۳۹م کال د مارچ پر۲۲نېټه لومړې ځل لپاره د اوبو نړيواله ورځ ولمانځل سو؛ په همدې ورځ په ټولي نړۍ کښي د اوبو د اهميت او ګټورتوب په اړه باید اړين ليکلي لکچرونه، رسنيز پروګرامونه، فلمونه، ګردي مېزونه او سمينارونه ورکړل سي.

په ټولي نړۍ کښي ۴۸۶ ميلیارده متره مکعبه اوبه شتون لري چي ۹۷% يې د بحرونو، خليجونو او سيندونو په بڼه، ۲% په قطبونو کښي د يخي په ډول او ۱% د ځمکي لاندي دي، يوازي ډېري لږي هغه يې د خوړو اوبو په شکل کاريږي چي ورځ تر بلي د کمښت سره مخ دي.

افغانستان د نړۍ هغه هيواد دی چي سيندونه يې له خپلي خاوري سرچينه اخلي، خو اوبه يې تر ډېره بريده نورو هيوادونو ته بهيږي، لکه څنګه چي کشمير د خپلو اوبو د سرچينو په موخه د جګړي او کشمکش ميدان ګرځېدلی دی، همداسي د افغانستان د ډېرشو کلونو کشمکشونو يو عمده لامل هم همدا اوبه ګڼل کيږي؛ افغانستان د اوبو له کبله يو غني هيواد دی چي د اوبو کلنی جريان يې ۷۵ ميلياردو مترو مکعبو ته رسيږي.

افغانستان ۱۳۰ کوچني او لوئ سيندونه لري چي د هغو له جملي څخه ۴۳ يې لوئ دي، دا په داسي حال کښي ده چي د هيواد ټول ولايات سيندونه لري، (نيازی.۱۳۹۷م:۴).

## ج:- د افغانستان د سيندونو د حوزې:

په عمومي توګه افغانستان د سيندونو د حوزو پر اساس پر پنځو حوزو ويشل سوی دی چي هره يوه يې لاندي په جلا جلا توګه توضيح کوو:

1. د کابل او آندوس حوزه (Indus river basin): دا حوزه د افغانستان د سيندونو د حوزو په سلو% کښي دولس ۱۲ ، په سلو کښي شل ۲۰% کرنيزه ساحه او په سلو کښي ۳۵% د افغانستان نفوس تشکيلوي، په دې برخه کښي د نفوسو ګڼوالی په هر کيلومتر مربع کښي نوي (۹۰) او د(22Billion m3) په شاوخوا کښي د اوبو د عمومي کلني جريان درلودونکي ده، چي په وروستي پړاو کښي د هند د سمندر سره يو ځای کيږي؛ په عمومي توګه د افغانستان د سيندونو د حوزو د مجموعي جريان په سلو کښي شپږويشت ۲۶% تشکيلوي.
2. د آمو سيند حوزه (Amu darya river basin): دا حوزه د افغانستان د سيندونو د حوزو په سلو کښي څوارلس ۱۴% تشکيلوي، په نتيجه کښي د افغانستان د اوبو د مجموعي په سلو کښي پنځه اويا ۵۷% جريان په همدې حوزه کښي وجود لري؛ د نفوسو ګڼوالی يې په هر کيلو متر مربع کښي(۳۳) نفره دی او د (48 Billion m3) په شاوخوا کښي د اوبو د مجموعي کلنی بهېدني لرونکي ده، د آمو سيند حوزه د ترکستان د دښتو په پراخي ساحي کښي بهيږي او همدا ساحه خړوبوي.
3. د هريرود- مرغاب سيندونو حوزه (Harirud - marghab river basin): دا حوزه د افغانستان د سيندونو د حوزو په سلو کښي% دولس ۱۲، په سلو کښي يوولس ۱۱% کرنيزه ساحه او د افغانستان د نفوسو په سلو کښي اته % ۸ تشکيلوي.

نوموړې حوزه د افغانستان د اوبو له مجموعي بهېدني څخه په سلو کښي څلور ۴% احتوا کوي؛ د نفوسو ګڼوالی يي په هر کيلو متر مربع کښي دوويشت(۲۲) نفره دی او د اوبو مجموعي کلنی بهېدنه يي د (3 Billion m3) په شاوخوا کښي اټکل سوي ده، په افغانستان کښي د يو کم واټن تر طی کولو وروسته د قراقوم په دښتو کښي جذبيږي.

4. د شمالي برخو د سيندونو حوزه (Northern river basin): دا حوزه د افغانستان د سيندونو د حوزو په سلو کښي يوولس ۱۱%، کرنيزه ساحه په سلو کښي پنځلس ۱۵% او په سلو کښي ديارلس ۱۳% د افغانستان نفوس تشکيلوي، د نفوسو ګڼوالی يي په هر کيلومتر مربع کښي(۳۹) نفره ښودل سوی دی، او د(2 Billion m3) په شاوخوا کښي يي د اوبو مجموعي کلنی بهېدنه ښودل سوي ده. په عمومي توګه نوموړې حوزه په سلو کښي دوه ۲% د افغانستان د اوبو د مجموعي جرياناتو لرونکي ده او د دي حوزي اضافي اوبه د اورال جهيل ته توئيږي.
5. د هلمند د سيند حوزه (Helmand river basin): دا حوزه د سيندونو د حوزو په سلو کښي يوڅلوېښت ۴۱%، کرنيزه ساحه په سلو کښي يو دېرش۳۱% او په سلو کښي اته ويشت۲۸% د افغانستان نفوس تشکيلوي او د ابو د مجموعي بهېدني په سلو کښي يوولس۱۱% تشکيلوي، د نفوسو ګڼوالی يي په هر کيلومتر مربع کښي(۲۲) نفره ښودل سوی دی او د اوبو د مجموعي کلنی بهېدني کچه يي د (9 Billion m3) په شاوخوا کښي اټکل سوي ده، چي د کمال خان بند د همدې حوزې اړوند ګڼل کيږي کوم چي زموږ د اوسنی علمي مقالي عمده موضوع هم ګڼل کيږي، (تڼيوال.۱۳۹۱: ۵۱-۵۲).

## د :- د کمال خان د بند جوړښت:

د کمال خان بند چي د افغانستان د اوبو او انرژۍ د وزارت لخوا د خپرو سويو ګذارشونو پر اساس د شاوخوا ۸۰ زره هکتاره ځمکي د خړوبولو او د ۹ ميګاواټه برېښنا د توليد د ظرفيت په درلودلو سره د سيمي په اقتصادي وضعيت کښي به په هر اړخيزه توګه د پام وړ مثبتي آغېزي رامنځه ته کړي، د سيمي د سرسبزی، د اقليمي وضعيت د مساعدوالي او همدارنګه د ځنګلونو د احياء تر څنګ به د انسانانو او حيواناتو لپاره چاپېريال په فوق العاده توګه د غوره او مطلوب ژوندانه لپاره مساعد کړي.

د نوموړي بند په جوړېدو سره ټولي هغه پټي او له پامه لوېدلي سرچيني په ملي کچه د متحرک اقتصاد د يوې فعالي هستي د پياوړتيا په بهير کښي به په ستري توليدي پانګي تبديلي سي، د لس ګونه زره کاري فرصتونو په ايجاد سره به د صعنت، ښاري پرمختګ او انساني پراختيا لپاره به د غوره شرايطو په رامنځته کولو سره، سيمه د جغرافيي د محروميت له زندان څخه د سوداګري او ثروت په مرکزيت تبديله کړي، کوم چي په محلي او ملي کچه به له پايداره امنيت، ثُبات او د سولي له بنسټيزه ايجاد سره به د پام وړ مرسته وکولای سي، ځکه د يو شمېر برجسته نړيوالو څېړونکو او زموږ د خپلو مشاهداتو پر اساس همدي فقر، بېکاری او اقتصادي فرصتونو ته د خلکو نه لاس رسي په هيواد او سيمي کښي نا امنی او د ترويزم ايجاد ته زمينه برابره کړي ده.

## پایله:

زموږ د څېړنو او تحلیلي مرکو پر بنسټ په سیمه کښې د تروریزم ستر تعریف فقر او محرومیت رامنځته کړی دی، په افغانستان کښې د خیریه چارو ملي او نړیوال مرستندویه بنسټونه وايي چې د افغانستان د لویدیزې سیمې ډیري ځوانانو د بی کاری له امله د وسله والو مخالیفینو لیکو ته مخه کړېده، تجارب څرګندوي کله چې کوم ګاونډي هیوادونه وغواړي په یوه هیواد کښې مداخله وکړي او خپل ستراتیژیک ځمق تعقیب کړي نو لومړی یي د سرحدي مناطقو اقتصادي او معیشتي وضعه تحلیلوي، که چېري یي ځوانان بې روزګاره او له اقتصادي فرصتونو څخه لیري و اوسي نو ډېر ژر یي د خپلو موخو لپاره د کارولو په موخه لاس په کار کیږي، ځکه کله چې ځوانان بې کاره سي نو د کورنی د غړیو د فشار او ځوروني برسېره ځان د ټولني د اوږو بار هم ګڼي، چې له دې وضعي څخه بیا له بده مرغه د سیمي او نړی هیوادونه او استخباراتي سازمانونه په خپله ګټه د اهدافو د تعقیب لپاره د هغوئ د استعمال لپاره لاس په کار کیږي.

په نتیجه کښې ویلای سو چې د کمال خان د بند او بریښناکوټ غوندي ستري ملي عمراني پروژي که څه هم له یوې خوا د سلګونو زره هکتاره ځمکو د خړوبولو، د سېلابونو له زیانونو څخه د ځمکو او خلکو د ژغورلو، د بریښنا له تولیدولو تر څنګ د اقتصاد ملي څرک په حرکت راولي او لس ګونه زره کورنیو ته د ژوند او عمران غوره شرایطو په رامنځته کولو، سره ځوانانو ته د پام وړ کاري زمیني مساعدوي چې، دا پ خپل وار سره سوکه سوکه د سیمي پر ثُبات باندي اندازي زیاتي مثبتي آغېزي پرېباسي او د جګړې کمبله له هیواد، سیمي او نړی څخه ورټولي .

## ماخذونه:


1. سیستانی، ۱۳۹۸ ل. جغرافیایي تاریخي، و اقتصادي ولایت هلمند،عرفان خپرندونه ټولنه، جلد(۱) ص (۲۶۴).
2. نیازی، ۱۳۹۷ل. د افغانستان اوبه، سوله خپرندویه ټولنه،جلد(۱) پاڼي (۱-۲-۳-).
3. تنیوال، ۱۳۹۱. د افغانستان عمومي جغرافیه، مومند خپرندویه ټولنه، جلد(۱) پاڼي (۵۱-۲۵).

# د ژونـــد پر چاپېریال د کمال خان بنـــد اغیزي

حـــــضرت عـــمر شـــېرزاد [1]

د بُست پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصیل

**لـــنډیـــز:**

اوبه چې په اوسني وخت کې ترټولو قیمت بها ماده ده او ترټولو لوړ ارزښت لري د اوسنی نړۍ زیاتره جګړې هم د اوبو په سر دي په خاص ډول خوړې اوبه چې ټوله نړۍ له کمښت سره مخ ده افغانستان چې د نړۍ په کچه یو له هغو هیوادونو څخه شمیرل کیږي چې زیاتې او پریمانه خوږې اوبه لري خو بدبختانه دغه طلا یې ماده له څو پیړیوو راهیسي ګاونډیو هیوادونو ته رواني دي له هغو څخه د هلمند سیند دی چې د هیواد په سطحه له ټولو لوی او پراخه سیند شمیرل کیږي چې میلیاردونه ډالر ارزښت لري اما اوبه یې زموږ ګاونډي هیواد ایران ته په وړیا ډول رواني وې خو خوشبختانه اوس هغه وخت راسیدلی دی چې موږ خپلې اوبه مهار کړود کمال خان بند د افغانستان ملي شتمني او ارزښتونو څخه شمیرل کیږي یاد د افغانانو د اوو پیړیو له ارمانونو څخه شمیرل کیږي له نن څخه اووه پیړۍ مخکې د افغانستان په جنوبي ولایت نیمروز کې د کمال په نوم یو وطندوسته او پر وطن مین افغان اوسیده نوموړي دا هیله لرل چې داسي بند جوړ کړي چې له ایران څخه خپلې اوبه مهار کړي بالاخره نوموړي له زیاتو خواریو او تکالیفو وروسته د خټو او تختو څخه یو بند جوړ کړ او څه ناڅه اوبه یې رامهار کړې خو له څه مودې وروسته د ګوډ تیمور پر نوموړۍ سیمه برید وکړ کمال یې په حق ورساوه او نوموړی بند یې وران کړ له کلونو ، کلونو څنډ وروسته یو ځل بیا د دې هیواد یو وطندوسته پر وطن مین او خاوري ته ژمن بچي سردار داود خان یو ځل بیا د دغه بند د جوړولو تکل وکړ او نوموړی بند یې د کمال په نوم ونوماوه خو بدبختانه پر داود خان هم لنډه سوه د ثور کودتا د داود خان ترڅنګ د کمال خان بند ارمان هم خاوري کړه ، که څه هم هرڅه بدل سوه خو د کمال ارمان لا هم هغسي استوار وه چې بالاخره څلور لسیز وروسته د هیواد ولسمشر د کمال خان بند د جوړیدو تکل وکړ خو د دې هرڅه د لا پرمختګ او جوړیدو هغه وخت وخلیدله چې انجینر خان محمد تکل د اوبو او انرژۍ د عمومي ریاست د رئیس وټاکل سوو چې اوسمهاله یې چاري بشپړه سوي دي او په نږدي راتلوونکي کې به ګټي اخیستني ته وسپارل سي .

**کلیدی کلمات: اوبه او په چاپیریال باندی د هغه اغیزی**



Tel: 0202522472 Web: www.nwara.gov.af Email: chiefofstaff.nwara1398@gmail.com Fb: www.facebook.com/NWARA.af Twitter: twitter.com/Nwara_afghan

## سـریزه

اوبه د جغرافيي وينه ده، هيڅ بدن له ويني پرته ژوند نه سي کولای. اوبه د ژوند اړتيا ده، انسان پرته له اوبو ژوند نسي تېرولای، اوبه د انسان په ژوند کښي مستقيم او غير مستقيم ارزښت لري، په نړۍ کښي هيڅ ژوندی موجود له اوبو پرته ژوند مخته نسي وړلای. اوبه د ځمکي پر سر د سيندونو، ويالو، سمندرونو، بخار او کنګل په ډول شتون لري. اوبه د دې تر څنګ چي د انسانانو او حيواناتو په ورځني ژوند کښي اهميت لري، د انسانانو په اقتصادي ژوند کښي هم خورا ارزښت لري. د اوبو د اقتصادي اهميت په اړه په کال (۱۹۹۹م) کښي د وبلين په نړيوال کنفرانس کښي د د اوبو اقتصادي اهميت په نړيواله کچه مطرح سو او دا موضوع يي د يوويشتمي پېړۍ د ستراتيژيکو او حياتي مسايلو په اجنداء کښي شامله سوه، د کنفرانس ګډونوالو د رايو په يووالي پرېکړه وکړه چي اوبه يوه اقتصادي ماده ده، د طبيعي سرچينو، لکه ځمکه، ځنګل، کان او ژويو بر خلاف د اوبو آغېز له سياسي پولو هم بهر موجود وي؛ لکه د سيندونو جريان په څو هيوادونو کښي . د امريکايي ساينس پوهانو په آند په مريخ کښي هم د اوبو د شتون آغېزي ليدل سوي دي چي معلوميږي هلته اوبه وې، نو ژوند به هم وو، خو کله چي اوبه له منځه تللي دي، نو ژوند هم پای ته رسېدلی دی، اوسمهال ساينس پوهان وايي که موږ له اوبو سره احتياط ونه کړو؛ نو زموږ ژوند به هم د مريخ په څېر سي، او دا يې هم ويلي، چي اوبه له تيلو هم ارزښتناکه ماده ده. په تېرو وختونو کښي به جګړې د خاورو او ښارونو د نيولو پر سر وې، خو اوس کارپوهان اټکل کوي چي د راتلونکو د راتلونکو جګړو يوه لويه برخه به د اوبو د سرچينو د کنترول پر سر وي. يوازي په تېري پېړۍ کښي د هيوادونو تر منځ اووه جنګونه د اوبو پر سر رامنځته سوي دي. د اوبو مسله په نړۍ کښي نن سبا ډېره مهمه او سياستوال يي انديښمن کړي دي، د اوبو پر سره شخړي په ټولي نړۍ کښي شتون لري؛ ځکه په ټولي نړۍ کښي شاوخوا (۲۵۰) داسي سيندونه شتون لري چي له څو هيوادونو څخه تېريږي. افغانستان چي د منځنۍ او سويلي آسيا تر منځ موقعيت لري، دلته هم د اوبو پر سر ډېري ستونزي موجودي دي او د اوبو د کمښت ستونزه ډېره مهمه ده. همدا اوس د پاکستان او هندوستان تر منځ د اندوس پر سيند، د چين-نيپال، هندوستان او بنګلدېش تر منځ پر هغو سيندونو کړکېچ دی چي د هماليا له غرونو سرچيني اخلي او په يادو هيوادونو کښي بهيږي.دا سيندونه (۵۰۰)ميليونه خلکو ته اوبه برابروي. په همدې ډول د قرغزستان، قزاقستان او تاجکستان تر منځ هم د آمو سيند، ارل سيند او سري سيند پر سر جنجال دی، د دې تر څنګ په منځني ختيځ کښي د ايران-فلسطين او عراق – اسرائيلو د شاتل العرب اوبو او د ترکيي د ډيمونو پر سر جنجال شتون لري، دې ته ورته يو شمېر نور هيوادونه لکه د سوريې او عراق تر منځ د تاجرس سيند، د امريکا او مکسيکو، ارجنټاين او يورګوای، په افريقا کښي د زمبابوې، موزنبيک، بوتوانيا، چوبا، زيمبيا، د سينيګال او ناجريا او د نړۍ په نورو برخو کښي هم د اوبو پر سره شخړي شتون لري. په نړۍ کښي له دوديزو، نظامي او سياسي ترينګلتياوو سره سره چاپېريال او اقتصادي وضعيت هم د پام وړ دی. په هغه راپور کښي راغلي دي کوم چي د جانز هاپکنز پوهنتون تازه خپور کړی، چي په (۲۰۲۵م) کال کښي به له هرو دريو نفرو څخه يو نفر په داسي هيواد کښي ژوند کوي چي هلته به د اوبو کمښت وي، دا په داسي حال کښي ده چي اوسمهال د نړۍ(۳۱) هيوادونه د اوبو له کمښت سره مخ دي او تر (۲۰۲۵م) پوري چي هند هم پکښي شامل دی د نفوسو د ډېرښت له کبله نور هم د اوبو له کمښت سره مخ سي (Seastani, 2013).

## ۱. د کمال خان بنـد اغیزې د ژوند پر چـاپېریال

نیمروز د هېواد له ګرمو ولایتونو څخه دی چې په لوېدیځ کې له ایران او په سویل کې له پاکستان سره پوله لري، همداراز په شمال کې له فراه او ختیځ کې له هلمند ولایتونو سره په ګاونډ کې پروت دی چې له جغرافیایي پلوه ځانګړی اهمیت لري . نیمروز وچه او ګرمه هوا لري چې په اوړي کې توده او وچه او په ژمي کې معتدله وي .په دغه ولایت کې د لویو او کوچنیو سیندونو شتون، د نوموړي ولایت د اوسېدونکو او ځارویو لپاره مناسب شرایط برابر کړي دي .هلمند سیند چې د هندوکش له غرونو سرچینه اخلي په همدې سیمه کې د هېواد لوېدیځ او سویل ته بهېږي .د پېچلیو درو او غرونو ترمنځ ددغه سیند بهېدل د کال په بېلابېلو فصلونو کې د ځمکو د ویجاړېدو او سیلابونو د راتلو لامل کېږي .دا په داسې حال کې دي چې ددغه سیند په اوږدو کې د اوبو د بندونو د جوړولو، د برېښنا د تولید او کرنې د ودې او پراختیا په موخه د شاړو ځمکو د خړوبولو لپاره په بشپړه توګه شرایط برابر دي .پر همدې لاره له دې مخکې کجکي بند او په روان کال کې کمال خان بند ګټې اخیستو ته سپارل شوی .د مسوولینو په وینا، دغه بند د نهه میګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لری(ځپانـد، ۲۰۱۴ ).

د افغانستان د ژوند چاپېریال د نورو هېوادونو په پرتله توپیر لري او د میلیاردونه متر مکعبه خوږو اوبو لرلو ته په پام سره په سیمه کې د اقتصادي ودې او تولنیز پرمختګ زمینه برابرونکې کېدای شي چې له بده مرغه د ناسمو سیاسي او امنیتي شرایطو له امله افغانستان دغو موخو ته نه دی رسېدلی .د هېواد کرنه او مالداري د هېواد په وده او اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لري چې اړتیا ده دغو برخو ته د امکاناتو په برابرولو کې دولت، د اوبو او برېښنا، کرنې او مالدارۍ وزارتونه او نور اړوند بنستونه کلکه پاملرنه وکړي چې له بېلابېلو اړخونو مو پرمختګ په برخه شي .د هېواد په لوېدیځ او سویل لوېدیځ کې د استوګنې شرایط د نورو سیمو په پرتله توپیر لري .که څه هم افغانستان یو غرنی هېواد دی چې ډېر غرونه لري خو د هېواد سویل لوېدیځې سیمې بل ډول دي، ددغو برخو هوا ډېره ګرمه او وچه ده چې د اورښت کچه یې کمه ده . همداراز د تبخیر کچه له اورښته زیاته ده .د سیندونو ترخنګ داسې کلي جوړ شوي چې اوسېدونکي یې د کبانو او مرغانو د ښکار، کرنې او ځارویو د روزول له لارې خپلې ورځنۍ اړتیاوې پوره کوي .په داسې سیمو کې چې شاوخوا یې وچې او ارتې دښتې دي د اوبو زېرمه کول او د بندونو جوړول د سیلانیانو او سیاحت کوونکو لپاره مناسب شرایط برابروي . پرېمانه اوبه د سیمې په کچه د مناسب چاپېریال لامل کېږي چې د افغانستان سویل لوېدیځې سیمې د ډېرو کلونو لپاره له وچکالۍ ژغولای شي .د اوبو دا زېرمې د شاوخوا ولایتونو تر ځمکې لاندې اوبو د زیاتوالي لامل کېږي او تر یوه بریده د دغو سیمو د اوسېدونکو د اوبو اړتیا پوره کوي .په اوبو سره دښتې او صحراوې زرغونې او د سیمې بڼه بدلېدای شي . همداراز، دا زېرمې د هېواد په سوېل لوېدیځ کې د خړ ځایونو د زیاتوالي او د سیلابونو د راتلو مخنیوی کوي .نیمروز د سمندر له سطحې ۴۲۰ تر ۵۰۰ مترو لوړوالی لري او د شاوخوا سیمو په پرتله ټیټ دی چې د بند جوړولو په برخه کې مهم رول لري او د اوبو د وتلو مخه یې نیسي

د هېواد په سویل لوېدیځ کې نیمروز ولایت ډېرې ځانګړتیاوې لري چې افغان دولت له هغې د هېواد او سیمې د پرمختګ په برخه کې د ستراتیژیکې سرچینې په توګه ګټه پورته کولی شي .په دې برخه کې باید کمزوري ټکي، توانمنۍ او ګواښونه له پامه ونه غورځول شي؛ ځکه چې د پرمختګ په تېره بیا د اوبو د بندونو جوړول چې له هېواده د اوبو د بهېدو مخه نیسي

او د سیمې یوه وړتیا ګڼل کېږي باید هغه ګواښونه هم په پام کې ونیول شي چې ښايي په دې اړه رامنځته شي چې دا چاره د سیمې د هېوادونو ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو مخالفتونو لامل کېدای سی (htt://wikipedia.AF) .

د یاد شویو ګټو ترڅنګ د کمال خان بند بیا رغول کولئ شي د هېواد وګړو ته د څښاک د اوبو په برابرولو کې حیاتي رول ولوبوي .نیمروز یو ریګي ولایت ده او د افغانستان د هغو ولایتونو له جملې څخه ده چې ځاګاني یې تروشي اوبه لري چې د څښاک او کرنط لپاره مناسب ندي .د زرنج او د ښار شاوخوا خلکو لپاره د اوبو اصلي سرچینه د هلمند سیند دی، د دې سیند پر سر د کمال خان بند جوړېدل به تر ډېره د څښاک د اوبو په مهارولو او برابرولو کې مهم رول ولوبوي .

بلې لویه ستونزه چې په هېواد کې او په ځانګړې توګه په نیمروز کې شتون لري د موسمي سېلابونو شتون ده، ډېرئ وخت د وریښتونو په موسمونو کې د ډېرو وریښتونو له کبله د اوبو سطحه لوړېږي او د خطرانکو سیلابونو لامل ګرځي، چې یاد سیلابونه تل د خلکو لپاره ګڼ اقتصادی زیانونه رامنځ ته کوي، د کمال خان بند په بیارغېدو سره به د یادو سېلابونو او اقتصادي زیانونو مخنیوئ او د یاد ولایت، او د بند د شاوخوا سیمو دا ستونزه به تر ډېره هواره وشي.

د بند د جوړېدو درېم لوی ارزښت د ځمکي خړوبول دي .افغانستان یو کرنیز هېواد ده او د کرنې سکتور د ودې لپاره حیاتي موضوع د اوبو شتون او پر وخت رسول دي .داچې موږ کرنیز هېواد یو او د کرنې سکتور د افغانستان د اقتصاد د ملاتیر ده خو دا چې ولې تراوسه په دې نه یو توانیدلي چې دې مهم سکتور ته پاملرنه او وده ورکړو او د هېواد اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره کړو؟ یو مهم دلیل یې د داخلي اوبو ناسم مدیریت، کنټرول او ورڅخه ګټه پورته کول دي .د کمال خان بند په جوړېدو سره به د شته اوبو یوه برخه مدیریت او د بند شاوخوا، ۱۸۰۰۰۰ زره هکتاره ځمکه به خړوبه شي .چې دا کوئ شي د نیمروز ولایت د کرنې په وده او د هېواد اقتصادي پرمختګ کې بنسټیز رول ولوبوي (htt://ROUhy.AF).

## **پایـــله:**

داچې اوبه په اوس وخت کې د نړۍ ترټولو قیمت لرونکي ماده په خاص ډول خوږي اوبه دا ځکه په اوس وخت کې ټوله نړۍ د خوږو اوبو له کمښت سره مخ ده داچې زموږ هیواد افغانستان د نړۍ په سطحه د خوږو اوبو لرونکو هیوادونو په قطار کې لومړی لري خو دغه اوبه بدبختانه ټولي بهرنیو هیوادونو هیوادونو ته رواني دي او هر کال دغه هیوادونه زموږ له اوبو څخه میلیاردونه ډالر په لاس راوړي خو بد بختانه موږ د څلورو لسیزو جګړو له امله نه یوازې داچې د خپلو اوبو په کنټرول نه یوو توانیدلي بلکي د همدغه اوبو پیداوار بیرته له ګاونډیوو په بیه اخلو چې دا په دې مانا ده لکه موږ چې په خپله غاړه خپله چاره راکاږو خو خوشبختانه چې اوسمهال د ملي یوالي حکومت پر راتلو سره د نورو پروژ ترڅنګ د اوبو مدیریت پاملرنه سوي ده په خاص ډول د هغه وخت راهیسي د انجینر خان د اوبو او انرژۍ د عمومي ریاست لوی رئیس ټاکل سوی دی چې د کمال خان بند د دغو پروژو په سر کې قرار لري چې ډیر ژر به یې افتتاح اوسئ هیله ده چې دا یې وروستی نسي بلکي د هیواد د ټولو سیندونو اوبه مهار سي ترڅو د هیواد د پرمختګ ، پرځان بساینې او صنعتي کیدو لامل سي (شېرزاد، ۲۰۱۳)



Tel: 0202522472 Web: www.nwara.gov.af Email: chiefofstaff.nwara1398@gmail.com Fb: www.facebook.com/NWARA.af Twitter: twitter.com/Nwara_afghan

## سـپاربښتني:

۱ .... موږ د کمال بند له جوړیدو څخه هرکلی کوو د دې ترڅنګ هیله لرو چي د هیواد د نورو هغو سیندونو اوبه چي د کلونو راهیسي ګاونډیو هیوادنو ته په وړیا ډول رواني ترڅو د همدغه اوبو په مټ یو په ځان بسیا او پرمتخللی هیواد ولرو

۲ ... له دلته څخه غوښتنه لرو چي د کمال بند په شاوخوا کي یو صنعتي شهرک جوړ کړي او د دې ترڅنګ هغه برېښنا چي د کمال خان بند له اوبو څخه په لاس راځي باید د نیمروز ښار د روښانولو لپاره ولګول سي ترڅو نیمروز په یو صنعتي ولایت بدل سي

۳ .... له دولت څخه هیله لرو چي د کمال خان بند د اوبو د لا ښه مدیریت لپاره د نیمروز ولایت لپاره کانال جوړ کړي چي په دې سره به یو خوا د سیمي خلګو ته چي اوس مهال د خوړو اوبه له کمښت سره مخ دي خوړي اوبه ورسیږي او بلخوا به د یاد ولایت کرنیز سکتور د پرمختګ سبب سي.



Tel: 0202522472 Web: www.nwara.gov.af Email: chiefofstaff.nwara1398@gmail.com Fb: www.facebook.com/NWARA.af Twitter: twitter.com/Nwara_afghan

## مـــاخـــذونـــه:


۱. روهي ویب سایټ ۱۶جدي ۱۳۹۹ htt://ROUhy.AF

۲. ویکیپیډیا ویب سایټ ( ۲۳ میزان ۱۳۹۹ ) htt://wikipedia.AF

۳. اصلاح ویب سایټ ( ۱۳ سرطان ۱۳۹۹ ) htt://eslahe.com

۴. ویکي فقه ویب سایټ ( ۱۶سنبله ۱۳۹۹ ) htt://wikifeqh.ir

۵. عظیم سیستانی (۱۳۹۹) لیکنه /azam seastani

۶. نصیراحمد ځپاند (۱۳۹۹) لیکنه / simply afghan